March 21, 1958

کابل

د ۱۳۳۷ کال دحمل (۱)
د ۱۳۷۷ کال دبرات (۳۰)
د ۱۹۵۸ع کال د مارچ (۳۱)

په دی گڼه کښی

ښکلی بهار ☆
پسرلیه تاته وایم ☆
دناخوانی پرضد ●

خالد بابا (رح) ●
ان مع العسر یسرا ☆
دبلخ شهزادگی ●

پسرلی او پښتو نخوا ●
د پسرلی خاطره ☆
پسرلی شو ☆

پښتو ټولنه ☆
گیتان جلی ☆ کتاب :
دبنگی مسافری ●

واولی ۰

پر له پسی گڼه (۴۵۳)

ښاغلی قندهاري «رشاد»

ښکلی بهار

ښکلی بهار شو، وخت د نهضت دی   د بڼ پرغولی، عیشو عشرت دی
پرخی د ګلو، په غوږ کی وایی: «اوس لارا پاڅیږ وخت غنیمت دی»

* * *

چونبی (۱) چه رېز کا، سهار بڼو کی   ګلو نه وایی، په نرا نو کی:
«د دنن په قدر، بوه شی نیا زمنو!   بیا ګټه نشته، په ارمانو کی»

* * *

نسیم غونچیبزی، غوټی مسا کی   بلبل د ګلو، مدحو ثنا کی
جمال جلوې کا، په بېلو رنګو   لیمه په کار دی، چه تماشا کی

* * *

او به شنا کا، په بېدلو کی   باداسکی زغ کا، په هسابدلو کی:
واده څڅواکی ؤ، سېن را نه جوړ شو   قوت مو بیا موند په بوکید لو کی

* * *

دا چه کړېږی، بو را پر ګلو   پر ستر ګو موږی، رقعې د ښکلو:
«وصال څه خوند کړ، که هجرنه وای   ښادی له غم نه، ږېږی ښاغلو!»

* * *

راځیږ چه د رومو، د ګلو لور ته   د ګلو لور نه، د حسن کور نه
تللی نیا زمن مو، بیا را ستانه شول   دا رمز ادا کا، چه یورنه پورنه!

* * *

له تانه جارشم، ساقی را درومه!   کړوری و اخله صراحی مومه
می را له را کړه، چه درد پیدا کړم   چه څه سوی نه وی، مینه له کومه؟

---

(۱) چونبی = بلبل

(۲۷ کال) (۲٤) گڼه

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعي ، ادبي ، او تاريخي مجله

د امتياز خاوند: پښتو ټولنه

د پښتو ټولنی مشر: گل پاچا «الفت»

مسئول مدير: م، د، «ژواك»

پته: کابل. نادر پښتون وات د بل خشتی دیله مقابل د تیلفون نمبر (۲۱۲۹۱)

ښاغلی غلام جیلانی «جلالی»

خپله حافظه وازموئ!

دلومړی ځل لپاره پټرول چا وازموېل؟

چینیانو- عربو- او امریکایانو:

د کومو اسلامي خلفاو په دربار کښې ۶۷۰ تنه مسیحی طبیبان موجود ول؟

امویان -عباسیان- او فاطمیان.

کوم کوم شاعران پداسې حال کښې چه صلیب بې په سینه ځوړند وو د اسلامي خلیفه حضور ته ورتلل؟

اخطل -فرزدق بخوا تر مسلمانېدو -ابن رومي.

- کوم فاتحان ول چه فلسطین کښې ئې ۱۴۰۰ اسیران لدې کبله اعدام کړل چه دوی نه بې وسېپېږی؟

-سترا سکندر - ژول سزار- او ناپلیون.

په کومه پېړۍ کښې عربو نوی زرېدنه به مهاجرت پیل کړی دی؟

دمسیح ترمیلاد پخوا په پنځلسم او نوسمه پېړۍ کښې.

کوم ښارونه ول چه اسکندر بې له فتح کولو څخه عاجز پاتې شو؟

صیدا - صور - او بیروت.

کوم کوم ښارونه وو چه ناپلیون په قهر حمله پرې وکړه مګر بیرته به شټ وو هل شو؟

قدس -حیفا -عکا.

ښیښه لومړی چا اختراع کړه؟

چینیانو - اُور پانو - فینیقیانو.

کوم اصلی اعداد (ارقام) ول چه په لاتیني او انګلوساکسوني ژبو کښې دېر استعمال شوېدی؟

غربی- یونانی- او پخپله لاتیني اعداد.

- په جنوبی امریکا کښې کوم ښارونه دحجم په لحاظ ستر دی؟

سان پاولو - بوئنس آیرس - ریودی جانیرو.

- کوم لاندې پادشوی هوادونه دمساحت په لحاظ ستر دی؟

چین- برازیل- دعربی هوادونو ټولهرقبه.

- کوم هوادونه دنفتو داهمیت له کبله په دوهمه درجه آهم ګڼل کېږی.

روسیه - سعودی عربستان - ونزویلا.

دخوایو نه موسمه څخه
ژوندی او خوازه موسم ته

ښاغلی واسعی

پسرلیه تا ته وایم!

ستا د رانګ په استقبال سره هوا توده شوه . ستا د پاره یخه سیلۍ د ژوند او خوند څخه ډکه وزمه شوه!!!

ستا د پاره دغرونو ، رغونو واوری ویلی شوې ، چا ته مخکې پخپله تود هسینه کښې ځای ورکړ ، وې زیبښلې او دخوا خوږی مورد شیدو به څېر ئې پخپل تهر کښې د خیره کړې.

خو بیوه برخه ئې پسرلیه ستا د پاره د خوږو او رونو سینو نو په نامه په شپلو ، منډو نو ، او خوړ نو کښې رابرې ښووې.

* * *

پسرلیه دا ددې دپاره چه ستا د رانګ زیری د مملکت پرو ګړو وکړی او د دخو ښیه او هوس خبر او د ژوند روح لوی . او وایه ؛ زلمی او زاړه بلکه ژوندی او مړه دواړو ته یوشانته ورسوی او پر باغوان د مینې او شوق زغ داسې وکې :

باغوانه ! زیری می در باندې پسرلی راغی
وخت د ګلانو او موسم د پر ګلالی راغی

«استاد الفت»

ستا د رانګ پیغامونه ، ستا د استقبال خبرونه نړۍ ته هر کال په ډیرو ذریعو او متعددو واسطو را رسیږی او هر څوك دی هر شی د ځان شی بولی : خو مونږ نه یو خبر چه ته به په رشتیا د هرچا شی ئې ، او دا دومره لوی ګمان به ستا په مورد کښې حقیقت ولری ؟

* * *

پسر لیه ته یوازی د سپیرې ونې او بې ه الوتې دوك دپاره نه ئې چه د دوی پر سر ستا د رحم او شفقت ژوندیه وزمه لاس ور تیر کړی . ستا غاړی په دې نه خلاصیږی چه زلمی ستا په روحو کښې د ځوانۍ په حرارت ـ او بخار کښې روان وی ، یا پیغله د ګلو هار په غاړه ګرزوی ، یا د یا خه عمر سړی د خپلو ازموینو بوه دوره پوره کړی ، یا زاړه او بوډه ګان د زلمی نو ب خوازه خاطرات وربه زړه ؛ او د شوق او ښکلی وریسی نوی کړی.

په هرچا د هیلو ، آرزوګانو ، امیدونو دپاره ښکلی قاصد ، خوږ ځری ، او د خو ښیه

زیری ئې، او ټولو کائناتو ته په یوه سترګه او مساوي نظر ګورې. ته که د لوړو غرو او جګو ونو سرونو ته برخه ورکوې، نو تر مځکه لاندې ضعیف او د نظره وتلي او نتلي داني، تخمونه هم دغسې نه پرېږدې، او هم دغسې نتلي او د نظره وتلي نه وي درڅخه پاته. دا خو ستا یو مخصوص خاصیت دی چه نه لوړ او ځوړ، هسک او ټیټ، بډای او خوار نه پېژني او فرق نه دربانده لري که له یوې خوا د بې وره بېدیا او صحرا سبزه په آزاده هوا او فضا کښې شنه کوې او روزې له بلې خوا څخه د هغو خونو په نمجنو کوټو کښې هم مرغه را شنه کوې چه نه ئې د لمر وړانګه او نه ئې د هوا ساه لیدلې ده!!!

هو! ستا نظر خوار او بډای ته یو شان دی که د بډای د کور دوره پر دواړو خواؤ د ډیوال پر سر ګلان شنه کوې، او د پرشوړ برو څخه ګلدانونه تشکیلوې نو د خوارې کونډې او بې وزلې یتیم د کور د شوړ بډلې د ډیوال پر سر هم اغزي راشنه کوې او ارغواني رنګه ګلان په کوې خو دومره قدر توپیر او فرق سره لري چه هغو ګلانو ته د پېغلانو سپین مړوندونه او لاسونه نشي ورغځېدای او د دوی بخملي ګوتې نشي وررسېدای او د دوی د غاړې هارونه نشي ځنې جوړېدی مګر دې ته د عبدالواسع جبلي د ګـالکو د کښت غوندې د لارې هر اوښ غاړه ورغزولای او اغزي د ګلانو سره اېپلای سي

* * *

بس لیه په آخر کښې لنډ درته وایم او یوه درته کومه هغه داچه د ټوله کائناتو سره به یو شان وکې او هر څوک او هر شی به بایو یا ډېره برخه درڅخه ومومي ترڅو چه د قبرونو څخه به د خاورو شوو زلمیانو او پېغلانو نیمه خوا او نامراده آرزوګانې د شنو سبزو سرو او ژړو ګلانو په توګه سر را پورته کړي

مګر دا به هم وکړې چه د ارمانجنو زړو او پاته ارمانو سره او ژړ ګلان غوړوي د آرزوګانو باغ او بڼ هم شین او سمسور شي. او د ناکامۍ بڼارونه هم ستا لطیفه وږمه د درد او غم څخه وبرانقي

دښاغلی نورحمد ترکی ترجمه

د ناخوانۍ پر ضد

دچین د بزګرانو مجادله

دچین خلکو داپه ګلکه پتیلې ده چه په (۷) راتلونکو کلونو کښې له خپله ملکه نا خوانی ورکه کړي. دا اټکل شوی ده چه په چین کښې (۲۲۰) ملیونه ناخوانه دي چه لوبه برخه ئې په کلو کښې اوسي. دا ښهري خلك به په راتلونکي (۷) کلو کښې (۱۵۰۰) چیني حروف زده کړي.
دچین د خلکو د حکومت داعقیده ده چه په دغه مملکت کښې د ناخوانۍ آفت ور کول دا معنی لري چه د فیودال او نیم مستعمراتي آثار به بیخي هلته له منځه بوول شي. دا د ډیره ورخبره ده که و ویل شي چه: کوم وخت چه په چین کښې دخلکو حکومت جوړ یدی نو هلته چه دمه نیت لخانګو بلله کیږي په سلو کښې اتیا کسان پرت ناخوانه و. له ۱۹٤۹ را پسته (۱۰) ملیونه و کړي لوستي شوي دي خو کوم وخت چه د سوسیالستي ولي ښې خیري شوي او دا سې فکر وشو چه باید دخلکو د خوانده کولو دپاره ډیره بیړه وشي چه په دي ډول د سوسیالستي دژوند. ډیر ید و نکي احتیاجات په زغرده پیرته کړل شي.
دیوه ښیر اود رانه پلان له مخي او د ښې لار ښوونې او مشر توب په برکت (۳۰) ملیونه بزګران په یوه ژمي کښې د لوست ویلو په کورسو کښې ورګډ کړل شول. ددوی لیك اولوست په دغو کورسو کښې په زړه پوری ؤ او دي عمل ته دا چه دچین په ملکو کښې دامفکوره مونده کړه چه دخلك باید خاك لوستي کړي.
ترلو هغو لوستو خلکو چه د سوسیالستي د بریالتیوب سره ئې ښه مینه درلوده په دي ښه کار کښې برخه واخستله او ددوی له دي مرستي څخه په ښه او موثر ډول ګټه واخستله شوه. ددي سوادي سره د جګړي دپاره د چین خلکو (۱۰) ملیونه عسکر د رضا کارا و په تو ګه چمتو کړي دي چه هریوئې دزړه د کومي ددي غوښتو نکي دي چه په دي برخه کښې ښه پوره مرسته وکړي. ددوی دمجادلي لاري او وسایل تر پیر سره لري او هغه دمحلي وضعیت سره سم دي. ددي رضا کارانو دزراعتي کوپرانیف اداري خورا په زړه پوري اسانتاوي برابروي. لکه چه د بزګرو په سل کښې ۹۰ شیان په کوپرانیفي کولو بوري اړه لري نو لکه د دغه مقصد دپاره موزون مکتبونه هم د کوپرانیفو له خوا سمیزی او کتاب سامان. زنا او دمکتب او دوخه هم کوپرانیفو نه کوي.

دلوستلو دپاره وخت ټاکي او هر ډول مشکلات چه مینځ ته راشي هغه حل کوي. دا ترتیب ددې دپاره هم ښه دی چه د ناخوانی پر ضد مجادله دا ډول ترتیب کړی چه له محلي وضعیت سره برابره دی چه البته بریالیتوب ئې هم خورا په زړه پورې وي دلته په دې خصوص کښې چه د چین خلک څه ډول د بزګرانو په ذریعه بزګران لوستي کوي یو مثال راوړو:

پیکنګ ته نژدې یو (کولکتیف فارم) دی چه د هغه د غړو بزګرانو له خوا دا پیتلی شوی ده چه خپل ټول ناخوانه وروڼه لوستي کړي دي فارم په خپل ۷ کلني پلان کښې دا جوته کړې ده چه په دغه پورته موده کښې به د خپلو غړو مادي او کلتوري معیار اوچته کوي او ددې پلان له مخې دوی دا فیصله وکړه چه د ۱۹۵۸ کال تر پسرلي پورې به هغه ټول کسان لوستي کوي د چا چه عمر د ۱۴ــ۴۵ کلو په مابین کښې وي. د دغه ډول کسانو شمیر په تېر ژمي کښې ۲۰۰۰ کسو ته رسیدی. دا مجادله په یوه خورا اساس او مرتب ډول شروع شوه او د مختلفو ناخوانانو په حقله بیل بیل طرزونه اجرا کیدل:

هغه مکاتیبو چه وروسته له وخت نه په کښې سبق ویل کیدی ۳۳ کلاسونه درلودل او (۴۸۰) کسو په کښې لوست کاوه. شاملینو یوه ورځ تر مینځ ۳ ساعته په ۳ مختلفو درجو کښې سبق لوسته دا درجې د شاملینو د سواد په معیار ټاکلې شوې وې. په دې ډول د لوړې درجې کلاس شامل کسان خورا ښه او په زړه پورې وړاندې تګ کړی دی او هغه څوک چه فارغ شوي دي هغه په آسانۍ سره لیک او لوست کولای شي چه اوس د لوستو کسانو په ډله کښې حسابیږي.

څوک چه دغو (وروسته له وخت) مکاتیبو ته نشي راتلای (لکه لنګې میندې) هغو ته ښوونکي کورونو ته ورځي او لوست ورښيي. دا ښوونکي اکثره هغه کسان دي چه له همدغه ډول مکتبونو څخه فارغ شوي وي اوس دغه فارم (۳۰۰) رضاکار ښوونکي لري.

ښاغلی لونګین

بهار د مینې

بیا رنګینه شو لو بازار د مینې — وطن زرغون کړ لو بهار د مینې

بلوڅې د ګډ له دامسانه راغله — ماته ئې وښود له لار د مینې

چه خپلو وینو نه زرغون شو هله — ربدی په سر کړلو دستار د مینې

بس یوه زړه نه یوه مینه ښائي — ماته کړی دی اقرار د مینې

د لونګین په زړه به څه تیریږي

چه مسابر ئې دی راز داور مینې

ښاغلی عبدالوکیل «صداقت»

خالد بابا ((علیه رحمة))

هر کام او اولس ځانته بېل، امتیازونه، مفاخر، او ځانګړی صفتونه لري، چه د هغو په مقابل کښې ځینې نیمګړتیاوې هم لري.

پښتانه په توره، مېړانه، مېلمه پالنه، لوړهمت او مروت باندې شهرت لري خو د ډېر افسوس ځای دی، چه د خپلې ژبې پاللو، علم زده کولو، او د پوهې روزلو څخه نیمګړي راغلي دي، د ډېرو پښتنو چه لوی، لوی کارونه ئې کړي دي بائي بالکل د تاریخ د پاڼو نه نوم لوېدلی بائي کارنامې د بل په نامه ښکل شوې دي، او باکټ مټ د لوېو کارنامو خاوندان پښتانه د بل کام په رجالو کښې یاد کړي او یائي په څه بهانه بدنام شو دلي دي، دا تول ځانته څرګند مثالونه لري، لکه علاؤالدین پیر روښان، سید جمال الدین او نور.

او بالعکس ځینې پردي رجال ئې پښتنو نه یائي پښتانه پردو رجالو ته منسوب کړي دي ددې بدبخت و وایم، که نیک بخت، کام په لاس قلم نه و - او قلم د پردو په لاس کښې، ؤ همدا وجه وه، چه علاوالدین په جهانسوز او سلطان محمود په غوث او ولی مشهور شول.

په همدې ډول یو مثله تاریخي او په غلطي د (خالد بابا) په حق کښې شوې ده، په پښتنو کښې د (خالد بابا) نوم ډېر شهرت لري - د تاریخ لیکونکو خالد بن ولید رض ښو دلی او د پښتنو حقیقي نیکه ئې بللی، پښتون یو تورزن، کام دی او تورزن سړی ئې ښه خوښېږي، د تاریخ په دې غلطۍ ئې مسامحه کړې ده او خالد بن ولید چه یو تورزن سړی تېر شوی دی په نیکه توب منلی او څه تردید ئې پکښې نه دی کړی.

مګر دا څوک څنګه منلی شي چه د نورو صحابه ؤ رض لکه ابوبکر صدیق رض اولاده (خواجګان) د عمر فاروق رض اولاده (حضرات) د علی کرم اللّٰه وجههٔ اولاده علویان د عباس اولاده عباسیان یا د بل کوم یو صحابي اولاده دې سره د دې چه ځینو پردو هم ورپورې ځان نښلولی دی د لس، پنځه زره کورو څخه دې په دېار لسو پېړیو کښې زیات نه شي او یو الحې د خالد بن ولید رض د اولادې څخه دې په همدو مره موده شل پنځه و یشت ملیونه ملت جوړ شي؟

که بابا یو اعزازي لقب وي او خالد بن ولید رض ته د پښتنو له خوا ورکړې شوې وي هم

مناسبت نه لري ځکه چه پښتنو هیڅکله پردو ته که هر څو مره د لوی شخصیت خاوند او پښتنو ته ډېر ګران هم وي داسې لقب نه دی ور کړی.

زما دا عقیده ده چه پښتانه چه خالد بابا یادوي دا خالد بن ولید نه دی بلکه دا خالد بن برمك دی، برمك د بلخ دانش کدې (نوبهار) چه د براوي معبد و متولي، برمك چا بر مغ یعنې لوی بامبر بللی او چا بل څه، وهلي برمك د برم څخه بللی لکه د ځمري څخه ځمرك د ببر څخه ببرك او د ګران څخه ګرانك، ددې نه څرګندیږي چه برمکیان پښتانه دي او پښتنو د هغو خدمتونو په عوض کښې چه خالد بن برمك دوی ته کړی دی د بابا اعزازي لقب ور کړی دی.

خالد بن برمك او ابو مسلم خراساني دواړه پښتانه وو، ایرانیان دعوي کوي چه خالد بن برمك او ابو مسلم ایرانیان دي خو دا غلطه ده. ځکه چه د مروان حمار د اموي یانو اخرني خلیفه په زمانه کښې د پیغمبر ص د آل دوه ډلې او دوه تحریکه یې په فعالیت اخته وو، یو د علي رض د اولادې له خوا او بل د عباس رض د اولادې له خوا چه په علویانو او عباسیانو یادېدل ایرانیان د علویانو طرفدار و شیعه ګڼل وو. پښتانه د عباسیانو ملګري وو، د دې علت دا و چه پښتنو د مذهبي معاذیرو له کبله نشو کولای چه بودم او مستقیماً خلافت ځانته واخلي او یا خپل ځانونه مستقل کړي نو د علویانو یا عباسیانو په پیروي کښې یې دې کار ته اقدام نه کاته مګر د علویانو نه نسبتاً عباسیان ځکه د دوی د مرام سره مناسب و، چه که علویان یو ځل د خلافت په ګدۍ کیناستل د هغه مذهبي نفوذ په وجه چه علویانو په عراق، حجاز، یمن او ایران حتی په شام کښې درلود بیا یې ولاړول ډېر سخت ښکارېدل. د عباسیانو نه داویره نه وه نو ځکه پښتنو مشرانو لکه خالد بن برمك او ابو مسلم خوراساني مؤقتاً د عباسیانو طرفداري وکړه، هغه دوه بیرغونه چه ابو مسلم ته لوی رهبر ورکړي و او یو یې سوری او بل یې وریځ نومېدل د هغوی رنګ تور وو، چه له هماغه تاریخه تر اوسه پورې د پښتنو بیرغ یا تول تور او توره برخه لري د ابو مسلم د لښکر ځای او وردي تور رنګه او د اموي یانو په مقابل کښې یې د پښتانه په همدې جامه د مقدس جهاد په نامه جنګول، چه دا جامه پښتنو په هغه وخت کښې یو مذهبي شعار په څیر بلله – او اوس هم د پښتنو ډېر نارینه توري جامې اغوندي او یو ملي مذهبي رنګه عنعنه یې بولي.

ما اوریدلي چه د لوګر یا تخا کلي ته نژدې ابو مسلم خراساني په نامه یو زیارت شته چه ډېر خلك ور درومي او د «ابو مسلم خراساني» په نامه کیتبه هم لري

بناغلی محمد صديق - سيلاني

د عربي دار العلوم زده كوونكى

ان مع العسر يسرا

دا د زمانې د دېوان قانون دی چه څوك له نوري او وسلې سره لوبې كوي رنګين او ځلانده مستقبل به ئې وي.

وګورئ د پسرلي كائنات څنګه په نڅا راغلل، بلبلو په خوږ و سندرو د خاموشۍ اعتكافات كړ، د ګلانو غوټۍ هم وغوړېدې او په خلاصه خوله ئې خندا شروع كړه. له ډېرې خوشحالۍ ئې خولې نه سره ورځي.

تاسې پوهېږئ چه د كائناتو، دښتونو ښكلا د بلبلو سندرې، د ګلانو له خندا د ګې خولې د څومره سختۍ او كړاو محصول دی د ژمي لړزوونكي بادو نه د واورو د ډېرې او امبارونه په مونږ باده نه وي وتلي چه د كائناتو په مخ نوني د بېرحمې چپړېوږ كولې او د يخ له زوره د بلبلو خولې نه بېرته كېدې.

وګورئ نن بيا د بلبلو خولې بېرته شوې دي نوي ژوندا او نوې سا په هر څه كښې چليدلې ده . په رښتيا چه پسرلی هر كله د ژمي د سړو شپو، لړزونكي بادو، يخ او بريښانه واوري محصول دی او هيڅ پسرلی بې ژمي نه وي ښه او خوشحاله ژوند د حركت او زحمت ګاللو نتيجه ده.

دا ته هر څه په حساب دي او هر معلول لره يو علت به كار دی د راحت علت زحمت دی بې زحمته راحت څوك نشي پيدا كولای كه لږ نژدې فكر و كړو د بېګا او سبا په خوند ورو طعامونو هم ډېرې ښې چاودې او زبات لاسونه تنها ګې هدوې دي يوه ګوله ډوډۍ چه زمونږ تر ستونې كښته كېږي د پوره زحمت او زباتو ستومانيو تېرولو محصول دی.

د دنيا سختۍ او تكاليف زغمل د عقبې د كاميابۍ او آسانتيا له پاره همدا معنا لري كومې وعدې چه د جنت د راكړې په باب مونږ ته شوي دي هغه هم د دنيا په زحمت او دردنو تېرولو بنا دي.

د استقلال ګلان همېشه د قوم په سرو وينو کښې غوړېږي په دنيا کښې هغه قوم د بهار خاوند او د سيلانو سيال ګرځېدلى دى چه تر نو روڼې زيات په تورو او وسلو بازې کړې وي.

د ژوند نيالګى د هغه چا ونه شي ده چه په سختو او بدو ورځو کښې ئې هم ترخه اخستې وي و ګورىء که و چه سختې اوسړې ورځې نه دي ليدې او بر ته د يسرلى له ښې اوتازه هوا نو رڅه نه پېژنى عمر ئې هم ډېر لند دى.

اقبال له هغه شخصه مخ اړه ولى دى چه په کباب او شرابو مينه کوي. د قدرت قانون د هغه چا په مخ ځپېره وز کړى ده چه د عيش او نوش په نشه مست او بې حرکته پروت وى.

د نوي کال په رمز او اشارو پوهېږىء! تاسى نه ورځ په ورځ د کار او فعاليت وخت زيانه وى ډېر خوب او لټې نه مو نه پرېږدي.

د زاهدانو شب خيزۍ بې څه نه دي بر کت تل په وختې پاڅېدلو کښې دى. وګورى هغه چه په وخت پاڅېدلى دى خپل مطلب (منزل) ته ورسېدلى چا چه له نمر ختو وروسته د حرکت قصد کړى دى په نيمائى مزله کښې ئې د تندى له زوره ژبه بوه لوېشت وتلې ده.

اوس پوه شوىء چه ښه برخه هغه چا ګټلى ده چه تر نورو په وخت پاڅېدلى دى او د حيات ښه برخه د هغه قوم په نصيب شوې ده کوم چه په دغه حقيقت پوهېدلى دى.

الهام اخستنه له همداسې رمزو ځنې کيږى د پسرلى رمزونو او اشار و ته د فکر باريکۍ په کار دى. موږ بايد د پسرلى اشارو ته ښه ځير شو او رمزونه ئې بې له الهام اخستنې پرې نږدو. د جهل په توره تياره کښې اضافه نر دې پاتې کېدل غټه ګناه او لوېه بې همتي ده ډېر خوب او لټې د مرګ معنى لرى د ژوند اصلى معنا حرکت دى او د ژوند خوند په زيات حرکت کښې دى.

د دنيا په آينه کښې لږ خپل مستقبل ته پام کوى وګورىء چه د سيلانو سپرلى خپل منزل ته ورسېدلې تاسى تراوسه پورى له خوبه لا نه ياست پاڅېدلى.

لمر پاس تندى ته ورسېد تاسې ايله اوس له بسترې لاندې د انسدامو غزونې شروع کړې.

پورته شىء د غفلت بسترې له ځانو څخه لرې کړىء نه چه بيا په خوب در باندې زور وکړي لمر به له غرو هغه پلو شي شپه به په توره دربيله بدلې کړي بيا که هر څو مره و تپرېږى سمه لياره به نه شي موندلى.

ښاغلی م - قدیر «حیدری»

دبلخ شهزادګی

په هغه وخت کښې چه د «ثم الذین یلونهم، ثم الذین یلونهم» مبارک زمانه لا نوه تیره شوی، او په اسلامی نړۍ کښې له شریعت سره د طریقت بنیاد هم پیدا شوی و، او د باطنی تعلیماتو رڼاوی له عربو څخه متجاوزی شوی او عجم ئې روښانه کړل. د حضرت حسن بصری، حضرت عبدالواحد، حضرت فضیل بن عیاض او دنورو بزرګانو (اهل الله) رضی الله تعالی عنهم له فیض او برکته په زړګونو تږو کښې د محبت الهی اور بل شوی، او د خدای په مینه مست له حرم شریف څخه وتلی او په صحرا او دښتو کښې ئې د حق زغونه بورنه کول. خیر دغه زمانه وه، او دغه حالات وو، چه یوه درویش په دښتو اوغرونو کښې د حقیقت رڼا وایده، د معرفت دد فتریه څېرنه کښې بوخت وه او د بلخ ښارته چه په هغه زمانه کښې د یوه خدا (ج) بېر هدونکی او عادل پاچا تر لاس لاندی دوورسېده، د عجمو دغه توته ځمکه د هغه خورا خو ښه شوه ولی چه هوائې صافه او ستره وه، له اسما نه څخه د برکت بارانونه په نظر ورغله، له ښاره او کلیو څخه ئې اری د خلپلیو یوه فقیرانه جاله جوړه کړه او د ښتن په یاد بوخت وو د هغه ستر ګو د «الله جمیل و یحب الجمال» لوست لیدلی او زړه ئې د «المجاز قنطرة الحقیقة» . تعلیم حاصل کړی وو، او د هغه درګ، ګرمو وینو ئې د مینې استقبال ګاوه، او دده په مغزو کښې د مینې پیلامو ځای درلود.

په دغه حال کښې وو چه یوه روځ د یوه ضروری کار لپاره ښارته ولاړ، داهغه روځ وه چه د بلخ د پاچا ګرانه لورد بڼ سیل ته وتلې وه د بازار په هرواټ کښې پیرې ولاړې وې، اماد بیره لرونکو په ستر کو خدای پاك داسی پردې واچولی چه هیڅ په درویش تعرض ونکړ او اوی واټ ته ور ګډشو په دغه وخت کښې شهزاګی د باغ له سیله څخه بیرته راتله، ساده مزاج اوله نړۍ څخه بی خبره فقیرا ریان ولاړ او هغه تماشه ئې کتله، د شهزادګی محافه چه دده وخوا ته نژدې ورغله نو د قضا او قدر د بیره لرونکو په اشاره صبا باد را والوت او له محافی نه ئې پرده لری کړه، فقیر د شهزادګی په یو وار لیدو سره زړه له لاسه ورکړ او ترډیره و ختمه پرهغه د بیخودی کیفیت طاری وو، کله چه ئې حواس ښه شول نو له ځته په محافه پسی زهی شو، دده کوشش فایده نه درلو دله ولی چه محافه شاهی ارګ ته ننوتله خو هغه بینوا په ورا ندی قدم ایښودلو جرأت و نکړای شوای او اخر ئې له خلکو نه

پوښتنه و کړه چه دا کوردچادی ، اوپه محافه کښی څوک دی ؟ خلګوهغه ورته اوویل چه دا کور دپاچادی ، اوپه محافه کښی دهغه لوروه ، دجواب په اوریدلو هغه بلکل لکه بریښنا وهلی ساکت اوپټه خوله ودریده ؛ ددی امید او ویرې ترمنځ اریان پاته شو د ځان بینوائي اود پاچا دبدبه چه به ئې سره موازنه کړه نوبه مایوسه شو لیکن همت او جسارت دبار ګاهی الهی یوه بې پناه عطیه ده چه ده ته ئې وربښلی وه ځکه ئې دپیرداراو پروا ونکړه اومخ دربار ته ئې ورکړ په دغه مهال کښی دپاچا ددربار کولو وخت وو او هغه بی تکلیفه دپاچا دتخت په خوا کښی ودرید .

دهغه وخت دپاچاهانو دربارهم دننوږرځی په شان وو (دتکلفاتو په ځای ساده ګی ، دغرور په ځای دخدای ویره په زړونو غالبه وه) نوځکه چه پاچا فقیر ولید ، له وزیر څخه ئې دمعلومیدلو پوښتنه وکړه . وزیر پورته شو اوله هغه نه ئې داسی پوښتنه وکړه ای درویشه ! پاچا مهربان ستا په حال ځان خبر وي ووایه ته څه ارزولری ! فقیر به ډیره بیباکی سره حپله تیرشوی حال بیان کړ اودشهزادګی غوښتنه ئې ځني وکړه وزیرته دده ګستاخی عجبه معلومه شوه اوپټه خوله پرخپل ځای کښیناست ، پاچاچه وزیرپټه خوله ولید نوحیران شو او وزیرته ئې امر وکړ چه دفقیر عرض ماته بیان کړه .

پاچاچه له وزیر نه دهغه مافی الضمیر ځانته معلوم کړ نوئې دی ځانته نژدی راوباله اوپه ډیر الطف او مهربانئ سره ئې ورته وویل ، ته شریف النسب ئې ، ستاخبره دیوه مسلمان په حیث بې ځایه نده مګر څورورځې وروسته به زه خپل رایه پدغه باب کښې تاته معلومه کړم ، فقیر چه دغه جواب واورید نوله اطمینان او خوشحالی سره خپل ځای ته ولاړ ، څو ورځی ئې په انتظار کښې تیری کړې ، څه وروسته د حال معلومولو لپاره بیادربار ته ورغی ، پاچا له وزیر نه سلا و غوښته چه فقیر ته څنګه جواب ورکړم . وزیر ورته وویل : « بلکل انکار وکړه » مګرپاچا دوزیرسلا خوښه نکړه ، په پای کښی وزیر یوغمی له خزانې څخه را وغوښت چه به هغه وخت کښی یو نادره او نایابه تحفه بلله کیدله اوپه عجمو کښی له بل پاچا څخه نه وه هغه ئې فقیرته ورښکاره کړ او ورته وی وویل : « که په رښتیا له شهزادګی سره نکاح کوې ، نوښائی چه اول ددغه غمی په څیر یو بل غمی راوړې ، ځکه دوه غمی شهزادګی ته په مهر کښی ورکول کیږی » فقیر به اول کښی په فکر کښی شو خو وروسته له څو دقیقو مینی دده په تن کښې همت پیدا کړ اودائی ورته وویل ، « ښه دی زه ځم ! اوددې غمی جوړه راوړم » عاشق دغمی دلاس ته راوړلو لپاره رهی شو ، اوپه بازارو کښی ګرځیده دی جوهریانو ته ورته ، سیخ دسیندلورته رهی شو

د سیند ژوروالي هغه مرعوب کړ، مګر همت دده په غوږو کښې ویل، چه انساني کوښښونه د سیندو چپه څو مره ګران کارندي، او دغه رنګه، دغه امید دغه تسلا کوله (لاتقنطوا من رحمة الله) هغه وچه خپل کچکول ئې په لاس کښې واخیست او د سیند اوبه ئې دو چې خوا نه شیندلي دده دا یقین ووچه پس له ابزي موده نه به د سیند تولي اوبه د کچکول په اچولو وچې کړم. هر کله چه د سیند کښې څپې ور کې شي، او د سیند منځ غولي په نظر ورشي نو به اساني سره به ده خپل مطلب لپاره بو غمې خوښ کړم.

فقیر ډیره موده شپه او روځ په دي دول زیار بوخت وو، خوراك او څښاك پرې حرام وو، له مشقته څخه ستومانه شو، مګر دا و بود کمید و هیڅ نښې به ظر نه ورتلې. په هر صورت بیا هم فقیر ما یو سه نه و او په خوراسر ګرمي سره په خپل کار بوخت وو. دغه د ساد ګۍ په ایدلو ځمکې او اسمان خندل دا و بو مخلوق مسخري کولې، دده په هغه ما شومانه حرکا تو د فرشتو رحم او دزړه سوی وشو، نو ئې دښتن په لوړ حضور کښې دده د کامیابۍ لپاره دعاوې وکړې، هغه د لوی ښتن مهربانۍ وشوله یعنې دقدرت په امر یوه سیلۍ راوالوتله چه توك سیندئې کښته پورته کړ، او یوه وړوکې څپه چه د شهزادګۍ خوت د ساحل و لورته راغله او به زر ګونو غمې او لعلونه ئې دو چې په لمن کښې واچول.

فقیر په ډیر نیاز د اسمان و لورته کتل له سره ئې دلمڅې خوله را کښته کړه او له غتو غتو غمیو او لعلو څخه ئې ډ که کړه، اضطراب او شوق دده پښې تر یخو الا چابکی کړې او ژر تر ژره ئې درسید او څخه کوله ....، ورسته له څلیرو پینځو ساعتو نه خپلې خالې نه ورسیده او دستي د پاچا حضورته ولاړ او دغه ترمخ ئې له غمیو او لعلو نو ډ که د کمبلي خولۍ پر ځمکه چپه کړه او وئې ویل «تاد بو غمي لپاره ولیږلم مګر ما نه لوی ښتن دومره غمي راکړه»، ددي واقعې په پېښېدو او دغمیو په لید و پاچاهك حیران پاته شو ځکه دومره ډیر غمي هغه نه لیدلي وا و نه ئې له چا او ریدلي. او په دې ئې یقین شو چه دغه فقیر یو کامل سړی دی له وزیر سره ئې په مخصوص ډول وکتل چه او س څنګه وکړم، وزیرورته وویل چه: «د شهزادګۍ واده له دې ملنګه سره به هیڅ صورت نه ښائي، پاچا به خپله وعده قائم او دلور ور کولو لپاره ئې اماده و منګر وزیرئې بلکل تائید ونکړ، او پاچاته ئې وویل چه جهان پناه زه به په ښه تو ګه سره دغه خبره دفع کړم»، نو ئې فقیر مخصوصې کوټې ته بوت او هغه ته ئې داسې نصیحت وکړ چه: «پاچا او فقیر هیڅ نسبت نه سره لري، ښائي چه نه لدې خامه خیاله څخه وګرځې، او بل بند و بست وکړې».

فقیر دوزیرد خبرو په اوریدلو خورا اریان شو نو څه ئې ونکړای شوای. وزیرته ئې

بوعده خلافي په باب دقرآن او حديث وعيدونه ياد کړه، او دقيامت دروځې پښتنه او له عذابه څخه ئي وو يراوه. مکر وزير بوه هم ونه منله، فقير چه دخپلي ارزو او تينګار وکړ. نو شمدستي ئي په بيره دار انو حکم وکړ او جبراً ئي هغه له شاهي ارګ نه خارج کړ. فقير څوورځې څخه شوساره اسويلي ئي ايستل دخپلي ځالي خواته رهي شو.

ځکه چه فقير له شاهي ارګ نه وتل شو سمدستي له حرم سراى څخه شور پورته شو، چه شهزاد ګۍ په درد نومبتلا او د دار البقا په لاري رهي شوه. يا چا دلور د مرګ له غمه ليونۍ شو او په دغه غم ئي دفقير دزړه ماتولو بد له وبلله وزير ته ئي خورا عتاب وکړ مکر اوس څه کيده، تجهيز او تکفين په ښه تو ګه باي ته ورسيده ددې شاهانه دب ئي شهزاد ګۍ ځمکي ته وسپارله.

پر قبر ئي ئي زرين پوښ وروغوړاوه، دعود وخوشبوئي ولګوله، دقران کريم دلوستني لپاره حافظان مقرر شول. يعني هغه رواجونه ئي نول پرځاى کړل، چه دبلخ دتاج اله وارثانو شهزاده ګۍ زيب کاوه.

فقير ته چه دشهزاد ګۍ دمرګ حال معلوم شو، نو دده په زړه کښې دمايوسي پرځاى بې تابي او نا قراري لاز ياته شوه، او نا بيره ئي داوويل: ه دبلبل عشق نه کمېږي که خزان شي نو ل ګلونه.

دقبر خواته ئي لار ونيوه. دشپې تاريکي له هغه سره مرسته وکړه، او د فانوس روښناى ئي له لري ونيده فقير چه نژدې ورغى چه ګوري بيره داران په خوازه خوب ويده دي. نو په داده زړه ئي قبر لاندي برخې ته ورننوت شو، او دشهزاد ګۍ پېزى (جسد) ئي راوکيښ.

پېزى ئي زاړ ښنا کړ او په منده، منده دخپلي ځالي خواته ولاړ. دشهزاد ګۍ پېزى ئي ديوال ته تکيه وکړاوو، څراغ ئي رالګاوه او دېننګ په دود ئي دحسن او ښکلا ننداره کوله. فقير دشهزاد ګۍ دښکلا په ننداره کښې محوه وو، چه يو په يوئي اواز تر غوږ شو، ده ګمان وکړ چه ښائي شاهي خبريال زماد تعاقب لپاره راورسيد نو په هغه غار کښې پټ کښيناست چه ده دعبادت لپاره پخپله ځاله کښې جوړ کړى وو.

مکر نه تلونکى سړى دپاچا خبريال نه وو، بلکه بوزوړ او حاذق طبيب وو، چه دښار ديوه ورځې نه دبيا ته پد وله امله دشپې دتېريدلو لپاره هلته راغى. طبيب چه وکتل يوه ښايسته پېغله ئي په خوله ولاړه ده، مخې ته ئي څراغ بليږي مکر هغه دحسن مجسمه بلکل بې حسه او بې حرکته ده. نوئي په هغې دسکتې دمرض ګمان وشو، له جيبه څخه ئي نشتر راوکيښ اولږوبوه تکلو ته ئي ورېږ وهله. دو بڼغى د څو څا څکو له لو يد و نه

وروسته د شهزادګۍ سترګې خلاصې شوې. د شرم او حیا نه ئې په کفن کښې ځان ونغښت او څیره ئې پټه کړه. له طبیب څخه ئې د حال کیفیت پښتنه وکړه د دوی د خبرو په اوریدو فقیر له غاره راووت. ماجرائې ټوله بیان کړه. طبیب د دواړو نکاح وروتړله. دوی دواړه ئې په خوشحالۍ کښې پرېښودل او سهار وختي ښار ته ولاړه.

فقیر او شهزادګۍ په فراغ او طمانیت سره خپل ژوند کاوه. دوی ته لوی څښتن خورا ښاپسته زوی ورکړ چه د هغه له تندي څخه د بزرګۍ نښې معلومیدې. کله چه فقیر زاده پنځه کلنی شو نو فقیر هغه د قرآن عظیم د زده کړې لپاره موظف کړ. فقیر به هلك پخپله درس ته ورووست او بیرته به ئې د درس ویلو نه وروسته خپل کورته راوست.

د بلخ پاچا په کور کښې هلك نه درلود. له دې کبله ئې له هلکانو سره بې اندازې مینه درلوده. دده دا عادت وو چه د درس ځای ته به ورته هلته به ئې هلکانو ته انعامونه وروېشل او هم به ئې دوی ته رخصت ورکاوه. د قدرت کرونه وو، یوه ورځ پاچا هغه ځای ته چه هلته د فقیر زوی سبق وایه ورغی. پاچا د معمول سره سم هلکانو ته انعامونه ورکړه او ټولو ته ئې رخصت واخست. هلکان چه کور ته تله نو ئې به هر یو جلا جلا مینه کوله. د فقیر زوی ته چه وارو رسید. د پاچا په زړه کښې د مینې جذبه پیدا شوه، او په زړګو کښې ئې د محبت وینه وښوریده. په ډیره مهربانۍ ئې له استاد څخه پښتنه وکړه: «دا هلك د چا زوی دی، پلار ئې څه کسب کوي.» استاد ورته وویل چه دا یوه خدای ترسه فقیر چه بې له زهد او تقوی څخه بل کار نلري د هغه زوی دی، پاچا وویل چه «دا هلك زه له ځان سره کور ته بیایم، هر کله چه فقیر دده د بیولو لپاره راغی، زما ماڼۍ ته ئې راولیږه» پاچا دا خبرې وکړې، د فقیر زوی ئې په آس سپور کړ او شاهي ارګ ته ولاړ. ملکې چه څنګه هلك ولید دستي بې اختیاره شوه. ځکه چه د هلك څیره خپلې مور ته ورته وه.

فقیر چه د خپل زوی د بیولو لپاره د درس ځای ته ورغی، هلك ئې ونه مینده، د حال له معلومونه وروسته شاهي ارګ ته ولاړ. که څه هم فقیر له ډیری مودې نه وروسته له پاچا سره مخامخ شو مګر بیا هم پاچا وپیژاند. په خورا عزت سره ئې د فقیر دارومدار وکړ او په خواپوري ئې کښیناوه. پاچا ورته وویل «رښتیا وایه، دا هلك د چا زوی دی؟» فقیر فوراً ټوله کیسه د پاچا په مخ کښې بیان کړه.»

پاچا ته چه د لور د رښتیا او ژوندیني حال معلوم شو ډیر خوشحاله شو. سمدستي ئې ملکه هم له ځان سره کړه او په خورا د دبدبه د فقیر د دېرې و خواته وخوځید.

(پاتې په ۱۷ مخ کښې)

ښاغلی منون باغوانیوال

پسرلی او پښتونخوا

تا نه د ر بخښلی طبیعت ښی منظرې دي، خدایږو له خوندونه ډکې ستا ښکلې درې دي
ډك رازپه راز ګلونو نه ستا سمې او مېرې دي تا کښې را رواني د عطرونو قافلې دي

نه هره خوا هر لوري به دي رخت کښې زرغون ښکاري
تا کښې هوا کیفونه د مستۍ او د جنون ښکاري

ستا په کانو بوټو کښې د نوي ژوندانه وینم تا کښې د قدرت د ښه کاریو لوی دفتر وینم
ستا په لویه غېږ کښې نازولي لرو بر وینم تا کښې د کیفونو شرابونه او کوثر وینم

ستا د ښو مېرو کښې مجنون ګوره خپلې شپې کوي
وګوره لاله د زخمي زړه مظاهرې کوي

لاړه د خزان د استعمار او دستم دوره لاړه د بلبل د مایوسۍ زړا او غم دوره
راغله د عشرت او طراوت ښکلې خرم دوره تېره شوه د ظلم شدايدو او ماتم دوره

راغی اعتدال د موجوداتو عناصرو کښې
نوی رنګ موجود شو د طبیعت په مناظرو کښې

غنچې بخملي جامې آغوستې داو ينا کوي شکر په نعمت کړي او مسکۍ مسکۍ خندا کوي
حال په ژبې باندې د دغه موسم ثنا کوي را به پرې خوښي شي تحمل چه د ژړا کوي

دغه زمزمې او ترانې د ګلشنانو دي
دغه ولولې او افسانې د موجوداتو دي

ګل دی که بلبل دی دې موسم کې خوشالي کوي دا زړه د نیا اوس د جنت سره سیالي کوي
وګوره شاعر نه چه او صاف د پسرلي کوي باغ کښې نرګس ګوره د ګلانو مالیاري کوي

غرونه نیسه صحرانه د شپېلو آوازونه دي
جوړ د خلمو نجونو سره ګډې اتڼونه دي

خوږ نسیم چلیږی او سیندونه هم چپې وهي وګوره بورانه چه د ګل غنچې دوري وهي
ټول کائنات وښي شول انسانان هم لاس پښې وهي دا مسعود موسم په پښه خوله د اسې ناري وهي

ای د پښتونخوا خلمیانو پورته شئ همت وکړئ
مړی راژوندی شول تاسې هم څه حرکت وکړئ

شپنواری دوست

د پسرلي خاطره

چا راته وویل پښتون شاعره، زړونه بدل شول، ارمان شو نوی
زاړه ځوانان شول د بهار له فیضه، دوران بدل شو جهان شو نوی
د زیړو ګلو قافلې راغلې، سمه او غر شو جهان د ګلو
غوټۍ پرک پرک شوې چه په خندا شوی، ابله چه ووت ارمان د ګلو
سپېره رغونه سره لاله زار شو، سرخي پیدا شوه سپېرو مخو کښې
ګلونه خاندي نسیم نڅېږيء جشنونه جوړ دي په سمو غرو کښې
شپنو ته هلته، ملېارنه دلته، د غرو لمنې، چمن یو رنګ شول
قافلې پنډې پکښې د ګل شوی، سپېرې مېرې، ګلشن یو رنګ شول
ونو زرغونې جامې اغوستي، ښاخو د ګلو منې (۱) په غاړه
سره کفنونه له خاورو وځي، خزان وژلي ژوندي شو واړه
سپین سپین سرونه د غرونو شور شو، زاړه ځوانان شو چه پسرلی شو
خزان اوت کړی پښو نه واړه، بېرته ودان شو چه پسرلی شو
شاعره! پرېږده زړی سندرې نوی، موسم او بهار وستا په!
لېږ وجدوا خله دور خوشپونه، ګلونه ستا په ګلزارو ستا په!
ورته ویل مې په ګل مینه! ګلونه څه کړم بهار به څه کړم؟
چه وزګار نه یم لا تماشو ته، چمن به څه کړم ګلزار به څه کړم؟
نن د ګلونو به بهار څه شي، خو ور ځې وروسته بېرته خزان شي
بهار هغه وی چه قام ژوندی شي، زړونه ژوندی شي وطن ودان شي
خریدار نه یم د رنګ او بوې زه، ارمان مې نه دی جهان له ګلو
ما نه په ستر ګو ستر ګو کښې ښکاري، لکه چه ډک وي زندان له ګلو
بلبل خو نه یم چه ګل به ستایم، د ګل ثنا نه نیم وزګار زه
زه یم پښتون او پښتون لپاره، همېشه غواړم ملي بهار زه
جهان که واړه سراسر ګل شي، شادي او غرونه په ګل آباد شي
خو چه دی ورانه د پښتون خونه، زړه به مې څنګه په ګلو ښاد شي
که د آمو نه تر اباسنده، پښتانه یو شي په یو ملار شي
د «دوست» پرېشانه خاطر به هله، بیا تماشو ته ایله وزګار شي

---

(۱) مېنې، د هارو نو او د امېلو نو معناورکوي

پسرلی شو

زه خو بو هېږم چه پسرلی شو مګر دا چه کوم پسرلی؟!

هغه پسرلی چه ستا مړاوي ښځه ئې هرګز نه بندېږي نه شي کولای؟

هغه: چه ستا پښه خوله د هغه د مظلومیت حال د ګل د بوی په شان ماد ځیلي بدحالۍ په راز ښه پوهولای شي؟

هغه چه نه ئې د پرېشانه سنبل پو واز ینی مثال پال کېږي؟

هغه چه نه ئې د بې پروائۍ په سختنه سېلۍ د مخه تروخت وهلي شوي ئې؟

هغه چه ستا خبري ګرېوان ئې دغوټۍ ژوندی تمثال دی؟

پسرلی شو.

خو:

هغه چه نه ئې د هوس پر ځای به همدغه پسرلی کښې د مات وزري مرغۍ په شان په د پره مایوسۍ تماشا کوې؟

هغه چه تا نه ئې د ښپوږمۍ دراز او نیاز قاصده کېدلای نه شي؟

هغه چه ستاد انتظار ستر ګی ئې د بوې خوالې خندا په ارمان ارمانجنې بری ا یښې دی او د بل پسرلی را تللو ته؟

هغه چه ستا مرور خاطر لا د ېخلا کېد لو مجال نه وی پکښې مو ند لی او دا مجال محال بو لی؟

هغه چه ستا مخ ئې د سهار ځغیدانۍ ته ور نه کړی دی چه د ماښام مسافره پر خه لاپر پر ته او د لمر په انتظار د خزان سره مخامخ شي؟

هغه چه ستا لیدو نګی نه د ائې « د لته زړه شته خو د شهیدی آرزو سره - د لته سر شته خو به ګریوان کښې نغښتی؟ »

هو! پسرلی شو او د هر چاد پاره مګر ستا بر خه په کښې د هغه مایوس ستر ګی او ښکی ته ورته د چه ګرزي - په ستر ګه کښې - مګر د ستر ګی سره د تعلق شلو او په حال کښې.

یادا چه د هغه بېلېدو نکی روح په څېر - چه د ځپلو انو د زړا انګلی د د ه دلاری مل وی نه پخپله نو حه ګر ، په همدغه حال کښې زه وایم چه پسرلی شو.

خو ستا د ژوند د پاره د بل پسرلی زیاتی بایدو نه بلل شي بلکه باید ستاد ژوندد تا مراد بو د سالګري بوه بله صحنه ورته وو بلل شي.

ای د بهار د خزان خوری نموی !! « ژواک »

د پښتو ټولنې

تاریخچه :　　~~پښتو ټولنه~~　　ښاغلی ویښ

دسیاسي پوهانو په نظر کښې یو ملت او سیاسي ټولنه هغه وخت د یو سیاسي ملت ټول حقوق لاس ته راوړی چه په هغه ملت کښې دغه څلور عنصره لګه :

«ژبه، دین، نژاد تاریخي تکامل» په حقیقي بڼه موجود وي ځینې پوهان لا یوازې ژبې او تاریخي تکامل ته اشاره کوي او همدغه دوه عنصره د ملت جوړونکي او ساتونکي ګڼي دوي وائي هغه ښېګړې او شرایط چه د یو ملت د جوړېدو دپاره پکار دي هغه ټول په ژبه او د ژبې په ترقۍ کښې لاس ته راتلی دوي ژبه د ملت د وګړو په منځ کښې د فکري وحدت او روحي اطمینان وسیله بولي، ژبه د کلتور او تهذیب د ترقۍ ذریعه ګڼي- ژبې ته د یو ملت د پېژند ګلوۍ هنه جلا بڼه او صبغه وائي چه یو ملت په دغه رنګ او خصوصت له بل ملت نه بیلدای شي .

ارنست رونان د تاریخي تکامل په فلسفه کښې دغه د ژبې خصوصیت په غیر مستقیم صورت تصدیق کوي. دی وایي :

دیو ملت او ټولنې د مختلفو وګړو ترمنځ د تاریخ په سیوري کښې د مشترک عمل سابقه په کارده او په ګډه او ژبان کښې اشتراك دیوه مقصد او هدف دپاره یوه غایه تعقیبول شرط دی. د دې نظر بې نه دارنست رونان مطلب دادی چه د یو ملت د وګړو په منځ کښې د دغسې تاریخي تفاعل او امتزاج په وجه د مینې او صمیمیت دایثار او فداکارۍ د لورینې او پېرزوینې برېښنا پیدا کېږي او مشترکو مفاخرو په هیله د یوې ګډې ایندې غایه وړاندې بیول کېږي چه دغه راز اشتراك عمل او توصیه فکر ته ملي روحیه یا د ملت روح هم وایه شي .

که څه خیر شو دا په حقیقت کښې یا هماغه د ژبې اصل ته رجعت دی او دغسې یوې سابقې موجودېدل او یوه ملت ته دیوه سرو هېږدي پیدا کول د ژبې مقنا طیس ته ضرورت لري څو یو د بل له روح سره اشنا او دعقیدو په پیوند ولو باندې موافق شي چه د دې نه بغیر د ژبو نو او افکارو د رابطې او علاقې، مرستې او تعاون مزی

(د ۱۳ مخ پاتې)

شهزادګۍ چه د دوی له رانګ څخه خبره شوه، مخې ته ورغله او د مور او پلار استقبال ئې وکړ، د هغوی په قدمو پرېوته او په خورا ادب ئې د هغوی لاسونه مچ کړل . دوصال دغه منظره دلیدلو وړوه ، مګر د بیلتانه په اور سوېوني خورا ښه خوند اخستلای شوای یا چا سمدستي شهزادګۍ شاهي محل ته راوسته ، او د هغه د ډېر مسرت له مخې چه ددوي په نصیب شوې وو، عام جشن جوړ شو مسکینانو او فقیرانو ته ئې خیراتونه ورکول او یو عام دعوت ئې په شاهي ارګ کښې وکړ ، چه په هغه کښې عام او خاص خلکو ګډون درلود .

دشهزادګۍ د ښتو ګڼي لپاره ئې ښه ښکله غوره کړه، چه په هغه کښې له شاهانه لوازمو سره سم هرڅه مهیا وو . مګر فقیر هیڅ هم نه قبلوله او دېخوا په شان ئې د لوږې او ناارامۍ ژوند قبول کړ، ځکه چه پاچازوی نه درلود ، نو ئې دفقیر زوی د (والدینو په سلا) ولیعهد وګرزاوو دا فقیر او د هغه زوی څوك وو ؟

دفقیر نوم حضرت ادهم (رحمت الله علیه) وو چه په اولیاءالله و کښې ئې د نصف النهار منزلت حاصل کړی وو، او د هغه زوی چه وروسته د تصوفو په اسمان کښې د لمر په شان وځلیده . نن د اسلام په نړۍ کښې هغه د حضرت سلطان ابراهیم بن آدم په نامه یاد بېږي.

۲

نښې ښکاره‌کېږي اودمشترك ژوند ښېګڼې امانته اوسلامته‌خپل هدف ته نښې رسېږي، نوځکه ددنیاملتونه له خپلو خپلو ژبو ادبیاتو اوثقافت سره مینه لري او ټینګ ور باندې ولاړدي، دخپلو ژبو دمه‌رفې اوخورولو له پاره هر راز اقتصادي باجونه اوانساني انرجي‌یخپلو مرکزونو اوددنیا په‌مختلفو ګوټونو کښې زغمي. ددغې مساعیو اوزیارونو مثالونه ددنیا مختلفې‌علمي اوادبي اکاډمۍ دي‌چه‌علمي، هنري ادبي، اوفلسفي فعالیتونه ئې دخلکو له‌نظره پټ نه‌دي پاته .

پښتو ټولنه‌هم یوه‌ادبي اوعلمي ضرورت، دژبې‌دروزلواوترقۍ، دملي مفاخرو دساتلو او دجهان دعلمي ټولنوسره‌درابطې ټینګولو له امله ۲۱ کاله مخکښې منځ‌ته راوستلې ده‌چه‌دادی مونږ ئې‌اوس په تاریخي سیرخبرې کوو. په‌دې‌ځای کښې بایددغه لاندې جریان په‌ډېرنیا کښې‌ووایو چه:

پښتو ټولنه هغه‌قلمي ګل‌دی‌چه‌بوټي ئې له‌دووجلاادبي او کلتوري ورخونو نه‌اوبه‌خوړلې‌اوښېرازه‌شوی‌دی چه‌دیوه‌نوم «انجمن‌ادبي» اودبل «پښتوانجمن» ؤ انجمن‌ادبي دافغانستان په‌مرکز «کابل» اوپښتوانجمن په «قندهار» کښې‌دملي‌ژبې پښتودروزلو، ادب‌پاللو دذوق اوقریحې داوچتو او‌دلیك‌دود دیو واحد طرز دټاکلوله‌پاره یو کال وړاندې ورروسته‌تاسیس شویدی .

انجمن‌ادبي اومرام ئې:

هغه وخت‌چه‌دافغانستان دوروستني انقلاب اورمړشواو‌په‌مملکت کښې بیادولتي‌تشکیلات منځ‌ته‌راغلل نوداعلیحضرت شهید غازي محمدنادر شاه‌دسلطنت په‌دوره کښې‌دانقلاب‌دخرابیودتلافۍ په نسبت دنورو رفاني اوملي‌تدبیرونو په‌لړ کښې‌داهم یوستر ګام‌ؤچه د ۱۳۱۰ کال‌دجوزا په میاشت کښې دګران وطن په مرکز «کابل» کښې‌دمملکت‌دنومیالیوفضلاؤ ادباؤټولنه‌د «انجمن‌ادبي» په نامه‌دیوې‌علمي اوادبي «اکاډمۍ» په حیث تا سیس کړه .

دې‌اکاډمۍ که‌څه‌هم کومه‌جلالانجه نه‌درلوده‌خودنشراتواواجرا آتوله‌مخې ئې په‌مجمل صورت‌غایه‌داوه: دملي اواجتماعي‌روزنې (کلتور ـ ثقافت) پالل دټولنې‌ددودونو، ملي فولکوردراټولول، دملي‌مفاخرو احیاء دادب‌اوذوق، دقریحې اوفهم لوړول، دباندني جهان‌سره ادبي‌او کلتوري تعلقات ساتل‌او دنورو له کلتورونه دملي تنویر په ګټه‌استفاده کول اوبخپل کلتوراوعلمي ذخیره کښې‌ئې راګډول. ددې‌مرام دسرته‌رسولو اومعرفۍ په‌غرض‌په‌دغه انجمن کښې «دکابل» په نامه یوه ثقافتي، ادبي، اجتماعي مجله د انجمن داعضاؤتر‌پام لرنې لاندې‌تاسیس‌شوه .په ۱۳۱۱ کال کښې د کابل‌مجلې په‌خوا کښې دمملکت‌دداري‌اوسیاسي چارو کالنۍ‌هم‌شروع‌شوه، په‌دغه وخت کښې‌انجمن‌ادبي اول‌داعلیحضرت شهیدله خوا پالل کېده اوښاغلي محمدنوروز دشاهانه ذات‌سرمنشي ئې‌افتخاري رئیس‌ؤاوښاغلي احمدعلي دراني دعمومي مدیرپه‌حیث‌ددغه‌انجمن په‌راس کښې واقع‌ؤددې‌انجمن اعضاءعلاوه‌پرعلمي اوادبي‌شخصیت داخلاقي، ادبي اوښه‌سلوك له‌پلوه‌هم په‌وطن کښې‌دښه‌شهرت‌خاوندان ؤ .

پښتوانجمن:

هر کله چه‌اعلیحضرت شهیدمحمدنادرشاه‌دعلم اوادب سره‌زیاته مینه‌درلوده په‌تېره‌دملي ژ بې «پښتو» دعلمي کېدواوتعمیم‌سره‌ئې کلکه‌علاقه لرله نودپښتو انجمن‌دتشکیل نظریه‌منځ ته‌راغله اوښاغلي محمد ګل‌خان مومند په ۱۳۱۱ هـ ش کښې‌چه‌دقندهاردملکي‌اونظامي چارورئیس‌ؤاودپښتو ژبې له روزنې اوپالنې سره‌ئې مخصوص‌عشق‌درلود، داعلیحضرت شهیدله‌هدایت‌سره‌سم ئې په‌قندهار کښې‌د «پښتو انجمن» تا سیس کړاو ښاغلي محمدعثمان‌ئې‌ورته په‌ریاست‌وټاکه ددغه‌انجمن هدف‌عیناً‌دانجمن ادبي په‌شان‌دملي‌روزنې‌اوملي ژبې «پښتو» په‌پالنه بناؤ. داانجمن په ۱۳۱٤ کښې دمالي، علمي‌وادبي مرستې‌اوتقویې په غرض‌مرکز «کابل» ته رامنتقل‌اودپوهنې‌په‌وزارت‌پورې وتړل‌شو .

پښتوټولنه:

په ۱۳۱٦ کال کښې‌انجمن ادبي‌اوپښتوانجمن‌دواړه دزیات‌فعالیت اومثبتې نتیجې په غرض‌سره‌یواودغه

دوه جلاجلا نومونه دپښتنو ټولنې په يوه نامه بلشوه گويا پښتو ټولنه په ۱۳۱٦ کال کښې د ثور په اول اعليحضرت المتوکل على الله دافغانستان معارف پالو نکي پاچا په امر او اراده دانجمن ادبي او پښتوانجمن داجتماع نه راووته اووددې دواړو ټولنو اعضاد يوه هدف او مرام د پر مختک له امله په يوه ټولنه (پښتو ټولنه) کښې ديوې اکاډمۍ په حيث چه افتخاري رئيس ئې والاحضرت سردار محمد نعيم دهماغه وخت د پوهنې وزير ؤ راټول او په مختلفو څانگو وويشل شوددغو څانگو د ندې په دغه لاندې څلور مادو کښې تعين شوی ·

۱- دافغانستان د تاريخ تدوين او دافغانستان په تاريخي څرنگوالي له هره پلوه پوره پوره رڼا اچول ·

۲- ژبې او ادب ته تحول او ترقي ورکول ملي اثار «فولکور» دوطن له هره گوټه راټولول او نشرول ·

۳ - ديوې عصري او علمي ژبې په حيث دپښتو ژبې درا ژوندی کولو، تدوينولو کار

٤ - دکابل مجلې او کالنۍ او نورو وطني جرائدو په واسطه ادب او ژبې ته ترقي ورکول او جهان ته په ابرومند صورت دافغانستان معرفي کول ·

تشکيل :

الف ، دادبيا تو اود اثارو دساتنې مديريت :

اعضاء ښاغلي قاري عبدالله، محمدسرور گويا، امين الله زمريالی، محمدقدير ترکی، محمدگل نوری، محمدسرور پوياټول (٦) تنه ·

ب : دتاليف او ترجمې مديريت :

اعضاء ښاغلي احمدعلی کهزاد، اورا دالدين، عبدالباقی لطيفی، يعقوب حسن، انگلسی مترجم روسی مترجم (٦) تنه ·

ج : دنشراتو (صحافت مديريت) :

اعضاء ښاغلي سيدقاسم رشتيا، قيام الدين خادم، احمدالله کريمی، يار محمد نظامی (٤) تنه ·

د: دلغات او صرف ونحو مديريت :

اعضاء : ښاغلي صالح محمد، محمداعظم ايازی، گل پاچا الفت، عبدالخالق اخلاص (٤) تنه ·

په دغه کال کښې دغه تشکيل دپښتو ټولنې ترعنوان لاندې ددغې ټولنې پورتنی مرام د زيری دهفته واراخبار، کابل مجلې، کابل کالنۍ په وسيله څه نه څه خپور اودلځينو مهموچارو دپاره ئې دعلمي او ادبي اثاروڅخه ترجمې ملي ادب (فولکلور) راټولو کار، دژبې قواعداودستور پلټل او پښتو لغات جمع کولو مبادی تراېوې اندازې تهيه کړې دی چه له هغې جملې نه د «پښتو ژبې» په نامه کتاب د پښتو ژبې دصرفي او نحوي ترکيب په باب چاپ ته هم رسېدلی دی · او نور دمسودې په صورت دادبي او علمي پانگې په توگه ذخيره شويدی ·

پښتو ټولنه په ۱۳۱۷ کال کښې دوالاحضرت سردار محمد نعيم په افتخاري رياست :

په دغه کال کښې دڅه نه څه تجربې په رڼا اودهغه جدی مجبوريت له مخې چه دپښتو ژبې تعميم او ترقي ته محسوس ؤ - دپښتو ژبې اعضاء د «دژبې» ترعنوان لاندې په يونوی تاسيس شوی مديريت کښې را غونډ کړی شو چه مديرئې ښاغلي زمريالی ؤ - اوددغه مديريت ترسيوري لاندې د ۱۳۱۷ ه ش دسنبلې په اول دوه کمسيونه جوړ شول چه: «يو دلغات وصرف نحو او بل دتاليف او ترجمې په نامه» په پښتو ژبې پورې مربوطې چارې ټولې په دغه کمسيونو پورې وتړل شوې، دتصحيح اوپلټنې (دکورسونو اودژبې دتعليمي سيستم دادارې دپاره) څانگې چه نوې تاسيس شوې وی او په پښتو پاللو پورې ئې اده لرله دژبې په مديريت پورې وتړلی شوې، په دغه کال کښې پښتو ژبې، ادب او ثقافت ته دغه لاندې خدمت شويدی ·

دژبې دمديريت ترادارې لاندې:

پښتو کلي لومړی ټوک لومړی جلد ·

دپښتو ليك ښوونکی «پښتوانشاء» مسوده ·

پښتو ژبې دوهم ټوك طبع او چاپ .

دملي هنداري ددوم جلد (قصص اوفو لکلور) مسوده .

دپښتو ضرب المثلونو (متلونو) مسوده .

پښتوټولنه په ۱۳۱۸ کال کښې (دعبدالحی حبیبی ترمدیریت لاندې).

په دغه کال کښې پښتو دیولوی مدیریت په تشکیل عبدالحی حبیبی ته چه پخوا تر هغه دقندهار د طلوع افغان مدیرو وسپارل شوه. په همدغه کال کښې دمطبوعاتو مستقل ریاست هم تاسیس شو اودغه ټولنه په هغه ریاست پورې وتړل شوه دغه ریاست چه دخپل تشکیل په ځلمیتوب کښې ودپښتو ټولنې تشکیل ئې نورهم پراخه کړاو توجه ورته دیوملي او ادبي ضرورت په حیث څه شان نورهم جدی وښودل شوه چه د تیر کال ورته دذخیری او په دغه کال کښې ددې لاندې تشکیل دفعالیت له محصول نه دغه لاندې نتیجه راووته .

تشکیل او اعضاء :

دژبې مدیریت ، دتالیف او ترجمې مدیریت دصحافت مدیریت، دقواعدو مدیریت تفتیش (کورسونه):

اعضاء :

لوی مدیر حبیبی، عضو زمریالی، خادم، الفت، بېنوا، رشتین، ترکی، اوراد الدین، ایازی، نظامی

ددې دورې چاپ شوی آثر :

۱- پښتو قواعد (۲) پښتواز نظر فقه اللغه (۳) پښتو متلونه (٤) لیك ښوونکی .

(٥) پښتو کلی لومړی ټوك ټول (٥) جلده

دمسودې په صورت : پښتو کلی دوهم جلد په دوو جزو کښې - مرغلرې په (۳٥۰) صفحو کښې دموفقیت اسرار- علم الاجتماع - قومي ددونه - قصې او لطیفې - وړانګه- کلاسیك ګرامر دلغاتو دبرابری ذخیرې جمع کول - دزیری دهفته وار اخبار چلول .

د ۱۳۱۹ ل نه د ۱۳۲۰ کال ترسرطان پورې دحبیبی په مدیرت کاردوام دراود چه نتیجه دا ده:

مطبوع اثار :

۱- دلوی احمدشاه بابا دشرح حال او اشعار وکتاب - (۲) پښتو کلی دوهم جزء (۳) پښتو کلی دریم جلد په دوه جزوکښې - (٤) پښتانه شعرا لومړی جلد (٥) پښتوا صطلاحات.

دمسودې په توګه، مناهج الحیات- معنی الحیات- اس زره متلونه- دپښتو کلی څلورم جلد د کابل کالنی نشر بدل او کابل مجلې سره مرسته کول .

پښتوټولنه له ۱۳۲۰ تر ۱۳۲۱ پورې دښاغلي پژواك په مدیریت.

ددغه کال دسرطان په میاشت کښې ښاغلی عبدالرحمن پژواك ددغې موسسې لوی مدیر وټاکل شو په دغه کال کښې دمتبوعه حکومت توجه دملی ژبې روزنه او پالنې سره لا پسې زیاته شوه او په تشکیل کښې ئې یوقدم بل هم دپښه اوزیات فعالیت په هیله وړاندې کښېودی شو یعنې ددغه کال په تشکیل کښې دپښتو دائرة المعارف ، دنقد او تبصرې - تدویر او سیار څلور مدیر تونه علاوه شوه چه دشعبو عمومی شمېر (۸) څانګوته ورسېد.

دادی تشکیل او دوه کلنی خدمت ئې :

تشکیل او اعضاء :

دمعاونت مقام - دصحافت مدیریت- دلغاتو مدیر یت- دتالیف ترجمې مدیر یت دائرة المعارف- سیار- نقدو تبصره تدویر - کورسونه .

اعضاء : لوی مدیر پژواك لومړی معاون زمریالی - دوهم معاون رشتین - دصحافت مدیر او عمومی مبصر الفت- ددائره المعارف مدیر میاحسین، دلغاتو مدیر سید مسعود - دترجمې مدیر محمدګل نوری، اوراد الدین مولوی شیرګل، یارمحمد نظامی، عبدالخالق اخلاص ددغو څانګو غړی ؤ:

الف: چاپ شوي اثار په ۱۳۲۰ هـ ش کښې :

(۱) لس زره لغتونه (۲) نوي ژوند (۳) بله ډيوه (۵) پښتو کلي څلورم جلد په دوه جزء کښې (۵) د پسرلي نغمه د کابل مجلې مياشتنۍ گڼې په پښتو ژبه (۷) کابل کالنۍ .

ب: د مسودې په صورت: پښتانه شعراء دوهم ټوک - پښتو کلي پنځم جلد لومړی جزء لغوي څېړنه .

ج: چاپ شوي اثار په ۱۳۲۱ کال کښې:

(۱) لغوي څېړنه - (۲) پښتو کلي پنځم جلد لومړی جزء - (۳) پښتانه شعراء دوهم ټوک ټول (۳) جلده

د: د مسودې په ډول:

د دائرة المعارف متفرقې ترجمې (۱۵،۰۰۰) پاڼې ، ټولې شوې دي ، د پنځم سمستر دوهم جزء د شپږم سمستر لومړی جزء همدارنگه د زيات شمېر لغاتو ذخيره لاس ته راوړل شوې ده .

پښتو ټولنه له ۱۳۲۲ د ۱۳۲۵ کال تر سرطان پورې

«بيا د حبيبي تر مديريت لاندې د دغه کال په منځ منځ کښې ښاغلي پژواك له پښتو ټولنې نه بدل شو او په عوض ئې پښتو ټولنې ته حبيبي راغی چه زيات وکم درې کاله ئې د پښتو ټولنې د دغې درنې وظيفې مديريت په غاړه وه - د دغې دورې په آغاز کښې نه پوهېږم څه چل وشو خو ، پښتو ټولنې په تکل کښې څه سستي غوندې پيدا شوه او څرخونه ئې د پخوا نۍ تونديې نه ولوېده کار کښې ده خلك مصروف وو مگر څرنگه چه توقع او هيله وه هغه شانته نتيجه ورنه لاس ته رانغله ځو وروستيو پښتو او تحولاتو ثابته کړه چه د دغه موسسه څومره چه د يو عالي تدبير او نظر محصول وو هومره ئې د هسك او مهربان لاس روزنې او پالنې ته هم ضرورت در لود نو ځکه د غه علت د هغه وخت کار کوونکو ته نه راجع کېږي بلکه د پخوا په شان د لوېې حوصلې او درانه نظر د مينې او صحبت نه لرې واته ئې غټ دليل باله شي ، خو سره ددې بيا هم د دغه ملي ناموس پاللو بوټي څه غوټۍ وغوړېدې ونيوې او دغه لاندې گلان ئې د باغوان ځولۍ ته وسپارل:

چاپ شوي آثار په ۱۳۲۳ کښې:

پټه خزانه - ملي سندرې دوهم ټوك .

په ۱۳۲٤ کښې: د پښتو ادب تاريخ ، پښتو سندرې ،

پښتو ټولنه د ۱۳۲۵ کال نه د ۱۳۲۹ کال د حوت تر مياشتې څلور نيم کاله د ښاغلي عبدالرؤف بېنوا په مديريت:

دغه دوره چه څلور نيم کاله ئې د ښاغلي بېنوا د پوه او پياوړي فاضل تر اداري لاندې دوام وکړ . د پخوانۍ ئې چندان فرق نه درلود او هغه پخوانۍ علل په دغه دوره کښې هم د عدم پيشرفت او مشکلاتو سبب و ، مگر د دغه فاضل په شخصي هڅه او فعاليت بيا هم ځينې علمي - ادبي او تاريخي آثار د دغې ټولنې څخه راووتل او د هېواد په نامه هفته وار اخبار هم تاسيس شو .

د دغه کال تشکيل او اعضا ء :

د لغاتو مديريت ، د مجلات مديريت - د قواعدو مديريت - د تاليف او ترجمې مديريت - کورسونه .

اعضاء :

لوی مدير بېنوا .

عضويار محمد نظامي ، محمد گل نوري - عبدالغني - محمد رفيق قانع ، عزيز الرحمان سيفي ، محمد شير گل او رحماني .

چاپ شوي آثار په ۱۳۲۵ کښې د غنمو وږی ميرويس نيك پير محمد کاکړ - په ۱۳۲٦ کښې ، روهي گلونه ويښ ځلمي ، ادبي فنون خانجهان لودي د ژوندانه لارې د دارمستتر پښتو څېړنې سيرة النبی لومړی جزء په ۱۳۲۷ کښې: پښتو اشتقاقونه پسرلنۍ مشاعره - پښتو گرامر لنډ کړی پښتو - متلونه ادبي جرگې - په ۱۳۲۸ کښې سيرة النبی دوهم جزء پښتو متل ، تر رحمان بابا خوشحال خټك څه وائي .

پښتو ټولنه د ۱۳۳۰ کال د جوزا تر ۱۲ تاریخ پورې ښاغلی صدیق الله خان رښتین په مدیریت

د ۱۳۳۰ کال د حمل په ۳۱ ښاغلي رښتین چه د پښتو ټولنې له پخوانو مسلکي اعضاؤ څخه یو غښتلی، پوه او فاضل لیکوال و، د دغې ټولنې واګې ئې په لاس کښې واخستې په عمده ګه کال کښې د غې ټولنې دوهمه پلاد زیری (۱) په نامه پښتو هفته ایز اخبار تاسیس کړ.

د ښاغلي رښتین په مدیدیت د غه ټولنه دوه درې کاله د پخوانو دوه تېرو دورو په شان له بحران او انحطاط سره مخامخ وه چه د پښتو ټولنې په مرام او مقصد کښې کوم ښکاره تحول او پیشرفت منځ ته رانغی د ۱۳۳۳ کال په ورو ستېو وختو کښې طبیعت بیا بیا د پښتو ټولنې نوم په زړو کښې خوږ کړ او دوخت دوا ګمنو بام ورته راسازشو دا نو هغه شېې ورځې دي چه دوالاحضرت سردار محمد داؤد حکومت نوی رو بکار شوی او د مملکت د چارو د خلاء په ډ کولو یسې اقدام روان دی دغه والاحضرت چه د ملي ژبې پښتو له ترقۍ او روزنې سره ئې له ډېرې پخوا نه علاقه درلوده د مملکت د نورو چارو نه مخکښې ئې د دغې ټولنې په حال توجه وکړه او پښتنو فاضلانو لیکوالو ته ئې د ملي ژبې پښتو د پېشرفت عصري کولو او علمي کولو په باب نظریې و غوښتې او بس له هغه د ۱۳۳۳ کال په اول کښې د دغه والاحضرت په امر په پښتو تولنه کښې د پښتنو فضلاؤ یوه بله جرګه و شوه او په هغه کښې د پښتو ټولنې آینده تګ لار په (۵٦) مادو کښې تجویز او ترتیب شوه د دغې لایحې په اساس پښتو ټولنه د یوی علمي او ادبي اکاډمۍ په حیث جهان ته اعلان او دیوې جلا بودجې، (۲۹) تنو افتخاري اعضاؤ (چه د وطن د ډېرو مشهورو او لایقو فضلاؤ او لیکوالانو ډلو نکې شوه او مدیریت ئې په یو اداري او بل افتخاري رئیس بدل شو، نو یا په دغه ډول د دغه والاحضرت د جدي توجه په اثر د پښتو ټولنې په بدن کښې سا په چلېدو راغله چه حق لري د پښتو ژبې د علمي کولو او روزلو په حیات کښې د نوی نهضت دریمه دوره ورته و وایو:

د پښتو لومړی نهضت د اعلیحضرت شهید په خلانده دوره کښې د انجمن ادبي او پښتو انجمن تاسیس دی او دوهم نهضت ئې د اعلیحضرت ظلمي ټولواك په عصر کښې د پښتو ټولنې تاسیس او تشکیل- دریم ئې همدغه دوالا حضرت سردار محمد داود اقدام دی چه پښتو ټولنه ئې د یوې منظمې اکاډمۍ په حیث دنیا ته اعلان کړه مستقله او مناسبه بودجه او امتیازي معاش ئې د معارف د معلمینو په شان د ټولنې دائمي اعضاؤ ته مقرر او د کار یو منظم پروګرام ئې ورته وضع کړ.

د دغې لایحې او تګ لار په قرار د پښتو ټولنې تشکیل او وظایف دادي:

د افغانستان پښتو اکاډمي پېژندګلوی:

دا مؤسسې او ټولنې نوم پښتو ټولنه ده چه د پښتو د یوې علمي او ادبي اکاډمۍ حیثیت لري پنځه مدیریته ئې تر سرپرستۍ لاندې په لسو (۱۰) مادو کښې د غه لاندې مرام او مقصد اجرا کوي:

الف! تشکیل:

رئیس . . .	ښاغلی رښتین			
معاون				
د ادبیاتو مدیریت:	ښاغلی ژواك	چه اصلي	عضو	هم دی
د ترجمې د مدیریت	« سیفي	«	«	«
د لغاتو مدیریت	ښاغلی شیر محمد خان محمد عالم اتمان		«	«
د مجلې د مدیریت	« محمد علی ځلو نګین	«	«	«
د محاسبې مدیریت	مدیر راز محمد ویښ			

ب: د ټولنې مرام او مقصد:

۱ - د پښتو ژبې ادب ته ترقي ورکول.

(۱) دزیری اخبار پخوا تر دې په ۱۳۱٦ کښې د دغې ټولنې تر اداري لاندې تاسیس شوی و خو بیا په ۱۳۱۹ کې بند شو او دوهم ځلا په ۱۳۳۰ کې تاسیس شو.

۲ ـ دپښتو ژبې علمي پانګه زیا تول «په‌پښتو کښې له‌خارجي ژبو څخه‌غوره‌علمي‌اوادبي‌اثار ترجمه کول اودهغو خپرول»

۳ ـ دپښتو ادبي ، تاریخي، کلتوري او نوروقلمي اوشفاهي اثارو ټولول‌اوخپرول « لکه ژاړه د بوانه ، لنډۍ، ملتو نه ، افسانې (فولکلور) اونور».

٤ ـ دپښتوژبې دلغاتو اوقواعدو تدوین ـ دضرورت له‌مخې دنویو اصطلاحاتواولغاتووضع کول «دادبي اولغوي څېړنې او د پښتو لساني علومو پورې مربوط اثارلیکل اوخپرول».

٥ـ دپښتو دادبیاتو ، دپښتنونو میالو دمعرفۍ په‌باب کښې خپروني کول.

٦ـ په‌پښتو کښې دلیکوونکو روزل اوتربیه‌کول اودپښتو لیکلودښه اویو متحداسلوب ر و اجو له

۷ـ دپښتو موسیقي له ترقۍ اودپښتو ډرامو جوړولو،ښودلواوفلمونواخستلودپاره تبلیغ او کوشش کو ل .

۸ـ دپښتو ژبې ددفترې کولو اوپه پښتو کښې دلیك‌او لو ست ا و تعلیم د عا مولو دپاره ز یا ر ایستل اوکوشش کول .

۹ـ دپښتو دېر مختګ ترقۍ اومعرفۍ دپاره‌په اخبارو نو اورادیو کښې‌خپروني کول ، کنفرانسونه جوړول په‌خارجي ژبو دپښتو ادب نشرول اوله‌خارجي‌علمي اوادبي ټولنوسره ارتباط ساتل.

۱۰ ـ پښتوټولنه به دپورته مرام دحاصلولو له‌پاره‌خا نله کتابونه وړې رسالې اونورې خپروني کوي اودکابل په‌نامه په‌یوه مجله نشروی .

له۱۳۳۰ نه‌د ۱۳۳۵ کال دجوزا تر دولسم پورې‌درشیتن په‌مدیریت‌چاپ شوی‌اثار:

الف: په ۱۳۳۰ کال کښې(۱) پښتو قاموس‌لومړی جلد ۲، نوی‌ژوند ،۳دعبدالحمید دیوان .

ب:ـ په ۱۳۳۱ کال کښې(٤) پښتوقصی،ـ٥(پښتونولی) •

ج : په۱۳۳۲کال کښې (٦) دبهائي جان کلیات (۷) بازنامه دخوشحال‌خان،

د(۸) بایزید روښان (۹)،ادبي بحثونه.

د : په ۱۳۳۳ کال کښې (۱۰) کاظم‌شیدا ـ ۱۱ پښتو قاموس‌دوهم‌جلد،۱۲شمس الدین کا کړ

ه: په ۱۳۳٤ کال کښې (۱۳) غوره اشعار- (۱٤) دجمال‌ناصر هر کلی،

ر(۱٥)-شېرشاه سوری، (۱٦)- دمیني‌هنداره- (۱۷)پښتني سندرې(۱۸)دهندسفر-پښتوټولنه د۱۳۳٥ کال دسرطان له‌میاشتې د۱۳۳٦ کال ترپایه .

دښاغلي ګل پاچا الفت په ریاست:

دغه ټولنه د ۱۳۳٥ کال په‌میاشت کښې‌دحکومت‌دزیاتې‌توجه په‌اثردمطبوعاتوله‌مستقل ریاست نه‌جلا اودپوهنې په‌وزارت‌پورې دېخوانیږ. مالي آزادي، په حال‌وتړل‌شوه ،دا اقدام‌دپښتوټولنې‌دمادي‌اومعنوي تقویې دپاره ډېر مفید واقع شو، ددغه انتقال نه‌پس دپښتوټولنې‌داداري اوچلونې‌له‌پاره دپوهنې‌دوزارت په پیشنهاد اودوزیرانو دعالي‌مجلس په‌منه‌اودملوکانه ذات په‌منظورۍ ښاغلی ګل‌پاچا الفت‌وټاکل‌شو.

دښاغلي الفت په اداره کښې چه دوقت اوزمانې دجوړښت اوساز ښت لاس له یوې‌خوا اودحکومت زیاته توجه اوښه‌پام لرنه دهغه‌دعلمي اوادبي‌استعداد ،ښه نیت مثبتواخلاقواوپرله پسې کار سره‌له بلې خوا‌ملګرې‌و پرته له‌دې چه دیونیم کال په‌موده کښې‌ئې (۱٤) علمي‌ادبي، تاریخي، اواجتماعي‌کتابونه دوخت‌دضرورت سره موافق‌طبع کړه‌دپښتوټولنې‌دافتخارزیاتولوانکشاف اوترقۍ په‌هڅه‌ئې‌ښه‌ګ کړې‌دی چه یوله هغې‌جملې نه دپښتوټولنې په‌پیشنهاددعالي‌شورا په‌منه‌اودپوهنې‌دښاغلي وزیر په مرسته او توجه دپښتو ټولنې ددائمي‌اومسلکي اعضاؤدپاره‌دپوهنتون داستاذانو په‌شان‌دشپږعلمي‌درجوداامتیازمنه‌اواخستنه ده ددغو درجوامتیازي معاش له ۵۰۰ نه‌تر ۳۰۰۰افغانیو منل شوېدی‌،چه دیوعلمي‌اوادبي‌مقام دسرلوړۍ اودرناوي له‌نظر نه‌یوه خوا اودپښتو ژبې‌اوافغاني ثقافت‌دروزلو،پیشرفت اواهمیت له‌نظره له .ل بلو • ومهم اوموثر اقدام‌دی.

دپښتو ټولنې دعلمی اومسلکی اعضاؤ امتیازی درجې:

۷- څېړونکی دمبا شتی ۵۰۰ افغانۍ
۲- څېړ نیار « « ۸۰۰ «
۳-څېړمل ۱۰۰۰ «
٤- څېړنوا ل ۱۵۰۰ «
۵- څېړندوی ۲۰۰۰ «
٦- څېړ نپال ۳۰۰۰ «

چه په مسلسل صورت په ( ) کالو کښې څېړونکی عضودلیاقت اوخدمت دښودلو په اثر دڅېړ نپال مقام ته رسیږی.

د ۱۳۳۵ د سرطان د ۱۳۳٦ ه ش تر پایه پښتو چاپ شوی آثار:

الف: په ۱۳۳۵ کال کښې : ۱- خوږې نغمې -۲ پښتو سندې دویم جلد -۳ اوږ خیالو نه ژورفکرونه ٤ پښتنا نه داقبال په نظر کې ۵ -منطق ٦- داور لمبې ۷- افغانی قاموس لومړی ټوک ۸ پښتو نثرونه -۹- پریشانه افکار .

ب: په ۱۳۳٦ کال کښې:

۱۰ نړ ې په دوه زرم کال کښې -۱۱ افغان قاموس دوهم ټوک -۱۲ دحنان بار کزی، دیوان ۱۳ پښتنی دودونه ۱٤- غور نثرونه -۱۵- هغه وویل - ۱٦- افغان قاموس دریم ټوک -۱۷- اودی پښتانه چه طبع ئې روانه ده او په دغه کال کښې به نشرشی ۱۹-دبنګ مسافرت

دمسودې په ډول ۱- کیف تتکامل له عربی ماخذ نه (۲۰۰) صفحو کښې ترتیب اوچاپ ته تیاردی ۲ - پښتوافسانې (ملی ادب اوفو لکلور) په (۸۰) صفحو کښې ۳- دبرطانیی دلندن دبرټش په موزیم کښې دپښتو له قلمی اثارونه د (٦۰) جلده کتابونو فهرست ترجمه شوی اودافغانستان دپښتواثاراو په فهر ست کښی یوځای په یوه ټوقایه کښې دطبع لاندې دی

له خارجی کلتوری اوتهذیبی موسسوسره ارتباط ساتل:

ددغه تېر یونیم کال په دوران کښې ددغې ټولنې رئیس ښاغلی گل پاچاالفت د ۱۳۳٦ دحمل تر اول دیو کلتوری هیئت په مشرۍ پېښورته لاړ، اوهلته ئې دادبی او کلتوری روابطو په باب له هغو دغه شان موسسو سره ددغې موسسې روابط ټینګ کړل دهمدغه کال دجوزا په اوائلو کښې دیو بل کلتوری هیئت په مشرۍ اتحادجماهیرا شترا کیه شوروی ته لاړ اوهلته ئې دڅېړ و دغه شان کلتوری اوادبی موسسوسره پېژندګلوی وشوه اودغه ټولنه ئې ورامعرفی اوددواړو خواؤ په ارتباط کښې ئې کوشش وکړ داسی په اواخرو کښی مونږ ته دیوه بل کلتوری او ادبی هیئت سره و لاړ اوهلته ئې په دوو کنفرانسو کښې دغې ټولنی له خوا دشرق پېژندونکو په کنفرانس کښې ! ګډون وکړ

اودغه موسسه اوپښتو کلتوراوادب ئې پوره ، پوره معرفی کړ.

دلندن په دارالفنون کښې دپښواوادب او ثقافت د مکتب اواستاد مکنزی ته د (۱۷) پښتو تاریخ - علمی - ادبی او فولکلوری مختلف اثار داستفادی دپاره ورواستول شوی اووخت په وخت ورپسی دپښتو نشرات او له لاری مرسته کیږی دلندن د کیمرج سیمنارته چه په هغه ځای کښې ددنیا کلتوری اوادبی اثار ټولیږی اوداد ب اوادبیاتو په باب داد باؤ له خوا محفلونه جوړ کیږی او کنفرانسونه ورکول کیږی په پښتو مختلف نشریات شوی او په دغه ډول ئې خپل ټول ار تباط ورسره ټینګ کړی دی .

د هندیلو بیلو ادبی اوعلمی موسسوسره دڅېړونو دلیږ لو رالیږلو ارتباط ساتل شوی دی .

دامریکې متحده اضلاعو له پروفیسرانو ، کتابخانوا و علمی موسسوسره دنشریا تو دتبا دلې روابط پوره ساتل شوی دی .

دیران دانشگاه او نورو علمی اوادبی مقاموته دپښتو نشریاتو په ذریعه لار پیداشوی او کلتوری علاقه ورسره کلکه شوی ده د پېښور او کراچی له اکاډ میو اوځینو ادبی کسانوسره هم ادبی او کلتوری روابط ټینګ شوی دی .

دروسيې ديلو يېلو جمهوريتو له اكاډ ميو او كلتوري موسسو او علمي او ادبي اشخاصو سره د دغې ټولنې ادبي او تهذيبي روابط برقرار شويدي .

د تور كيې درادېو پښتو شعبې سره ادبي علاقه ټينگه شوې او پښتو ټولنې خپروني ور استول شوې دي .

د دغې تاريخچې لزوم او ضرورت:

هغه وخت چه د خلكو خبره د پښتو پالكو د ريم نهضت راغي پښتو ټولنه ديوې جلا كړن لارې له مخې ديوې منظمې اكاډمۍ په حيث اعلان شوه نوور سره ور سره د دې خبرې ضرورت هم پيدا شو چه بايد د پښتو اكاډ مۍ مطبوع اثار د جهان د نورو اكاډ ميو په شان په يوه مطبوع فهرست كښې راشي څو نور خلك ادبي او علمي منابع ئې له ماهيت سره آشنا او د ضرورت وړ اثار ئې د موضوع ، منابعو او ليكوالو له حيثه په نامه و پېژني او په عين حال كښې د پښتو ټولنې سره هم د خپل كاريو معيار او اندازه موجوده شي .

نو په دغه وخت كښې ښاغلي صديق اله خان رښتين د دغې ټولنې مشر په ١٣٣٣ كښې ماته وويل چه ته بايد له همدغه اوس نه د افغانستان د دغه نوي نيټه ليك (١٣١٠ هـ ش) نه را دې بلوچه د اعلحضرت شهيد غازي محمد نادر شاه پښتو نخوا ته يې نسبت كيږي د پښتو چاپ شو يو اثار و فهرست راټول كړې دغه كار چه پوره فرصت او ازا د اقدام غوښت زما په شان مسئول او مامور سړي ته يې د سرته رسولو خيال ډير ارى وخوځه مې كړي واى چه د ملگرو فقر او د وخت ضرورت و ناچارۍ مخ ماته را وا و ونيت ماهم دد غسې يوه محترم فرما يش اجراته د خداى په توكل او صرف د پښتو ټولنې جذبه او د مشر ولي د مينې په اثر دغه د شيند لو مرغلرو راټولو لو ته سره د خپلې هر ډول كمزورۍ او گرفتارۍ ملا وتړله او رښتين صاحب ته مې هوا وكړه دادې په دې ور ستيو و ختو كښې د خداى په فضل ما توفيق وموند او دا فهرست مې مكمل كړ چه په كابل مطبعه كښې تر طبع لاندې دی ماد اكار د هماغه وخت نه را شروع كړى دى او دادى تر ننه په كښې بوخت يم ما د خداى په فضل او د دې ټولنې د مشرانو په لارښونه او د ملگرو په مرسته په دغه فهرست كښې د پښتو ټولنې ټول اثار تر مطبوعاتو مركزي اخبارو مجلو قبا ئل او ولا ياتو حتى د بر تش د مو زيم قلمي نسخې ، د لا هور د كتابخانې ، په مسكو او امريكې كښې چه كومو مستشر قينو چه څه ليكلي هغه ټول په دغه فهرست كښې زيات وكم د (٢٥٠) په حدودو كښې پښتو چاپ شوى مختلف اثار د مملكت په دننه او (٥٠٠٠) دا سې په دباندې ممالكو كښې چه د ټولو شمير كم له كمه (٣٠٠) ته خيژي ښكيل كړي چه د كتاب نوم سره د مولف يا مترجم ، مصحح او مدون د نامه) حجم او تقطيع) د چاپ كال او څه نه څه ښكرې په كښې توضيح شوي دي خو دا بايه وويل شي چه زه غبرله مركزه ولايا تو ته په دغه كار پسې نه يم تللى او په مركز كښې همدغه اثار لاس ته نه دي راغلي مگر دا بايد ووايم چه زه په او فكر مې دا خلور كاله د مركز دولاياتو او خارج په بيله بيله مطبعه او كتابخانه كښې گرزيدلي او د انساني طاقت په اندازه مې په دغه اثار ويوړي مربوطځا يو نه او اشخاص لټولي او دغه د پښتو د يكړي كلان مې ورنه ځواې كښې را او پلي دي اوس دغه فهرست د خداى په فضل د پښتو ټولنې له خواخپر يږي نو دا ضرورت هم محسوس شو چه بايد د پښتو ټولنې تاريخچه هم راټوله او د دغه فهرست د پاسه علاوه هې مخصوصا په دغه لار كښې ماته د پښتو ټولنې دد وخت مشر ښاغلي محترم گل پاچا الفت يو ره جر آت او دغه ماخذ و نو يته هم راكړه دده په توجه ما ته دا فرصت لاس ته راغى چه دد غې تاريخچې په ترتيبو لو كښې د دغه لاندې ماخذونو نه استفا ده وكړم

كابل مجله لومړى شماره (١٣١٠ هـ ش)

كابل كالنۍ مخصوصاً د ښاغلي تر كي له هغې مقالې څخه چه د پښتو ټولنې په باب ليكلي وه (١٣١٦ هـ ش)

د ١٣١٧ – ١٣٣٠ كابل كالنۍ

د پښتو ټولنې اساس نامه

د پښتو ټولنې اېښتا زۍ لا ايحه

ددې د پاره چه د پښتو ټولنې علامندان د پښتو ټولنې له تاريخي سير او فعاليت نه پوره پوره خبر شي لازم و گڼل شو چه دغه تاريخچه د كابل په مجله كښې هم په دغه تفصيل سره خپره شي

گیتان جلي

په دې روځو کښې په بور نه لامه کتابچه د پیانو ډي لیکوال ټیگور د نغمانو یوه برخه ده رودهر ويبوونکی زړه په وبلږ او گیتلو سره د معنوي جهان سره آشنا کوي د ښاغلي بېنوا

له خوا په ډېره خوږه او سلیسه پښتو ترجمه شوي او د کابل مجلې دایرې ته رارسیدلی دی ښاغلي بېنوا خو هر څوك پېژني چه تر مضمون ئې طبیعت او تر طبیعت ئې مضمون خوږ ایسي یعنې کسری او سري د ده سره صحبت وکړي نو ده پر صحبت به خامخا د خوږوالي حکم وکړي خو کله چه د ده مضمون وگوري په دې وخت کښې د ده او د ده د مضمون ترمنځ قضاوت څه گران ښانتی ښکاره شي. هغه هم د خوږوالي په اعتبار ځکه چه هم دی خوږ دی او هم ئې صحبت د ده د اسې وضع او حال سره تاسې په خپله د ده د ترجمې په شاوخوا کښې د خوږوالي حکم کولو سره چار او ناچار مخامخ کیږی.

دا نغمې ما دوه ځله لوستي دي یو په هغه وخت کښې چه په متفرق ډول نشر په لې او بل د غه وخت چه د یوې مجموعې په ډول ترجمه شوي دي په دواړو وختونو کښې له ما سره دا سودا نه ده پیدا شوې چه بیا به ئې نه لولم بلکه د هر وار مطالعې سره دا فکر بیا بیا راسره پیدا کیږی چه لولم به ئې او هر هر وخت، نو د دا سې احساس سره زه وایم چه هر پښتون باید دا کتاب واخلي او په خپل جیب کښې ئې د هر وخت د پاره وگرزوي چه د لږ فرصت په وخت کښې خپل فکر د نړۍ د کشمکش د فراغ په خاطر د دې کتاب معاینو ته وسپاري او یوه کړۍ د معنی دنیا ته د خلاصون پناه یو سي (اداره)

والله که غوږ په غوږ خبر یږی چه دا ډوډۍ څرنګه دلته پخیږی او څرنګه دلته راځی.

«بنه دی په خپله «بنګ» ته ووایه که دده خوښه وی زما خوښه ده. هر څیری چه دی ارام وی زه ارام یم. فقط دومره خبره ده چه زما خواری نو ګواکی ضایع شوی ځکه چه دی ما په ډیر زحمت بوخته روزلی ؤ او دومره اعتبار می په ؤ چه حد نلری. اوس به نو بیابل صحرائی په لار کوم. «بنه» نو چاره څه ده؟»

بیا خلیفه «بنګ» ته چه له نورو شاګردانو سره ئی چلم څکاوه ورږغ کړ چه «بنګ» په بیړه دخپل خلیفه خواته راغی. خلیفه ورته وویل چه: «نګران صاحب غواړی تا دپیش خدمت په حیث د... صاحب کره ولیږی ځی؟ خوښه دی ده او که یه؟»

نګران سمدلاسه دخلیفه له خولی خبره واخستله او «بنګ» ته ئی وویل «ورور که البته به دی خوراک خولی به غوړه وکښی» وی. تنخواه به هم له دی ځایه اخلی او برسیره په هغه ډوډۍ به هم درکوی. زه یقین لرم چه ... صاحب زړه سواندی سړی هم دی ګوندی نور کالی هم درکړی او یو ښه پټلی به درکړی او یا به ښکلی خولۍ درانیسی. مقصد دادی چه نه به په نس خوارئی او نه په تن. سر له سبا چه دلته راغلی زه به دی له ځان سره بوزم او د... صاحب کره به دی ورولم»

«بنګ» په چرت کښی شو. خو نګران سمدلاسه نور زور ونیو او پرمټ ئی باندی ئی کښیکښل او بیائی ورته اطمینان ورکړ چه به دی کار کښی به خورا خوشاله شی او له ده ئی درضایت «هو کی» واخیست سبائی ئی انه نیمی بجی د.. صاحب کره وروست او پیش خدمت باشی ته ئی په لاس ورکړ. هغه سمدلاسه یو «صافی» په لاس کښی ورکړ او ورته وی ویل:

« او وروره ورشه ! دننه د ډوډۍ په خونه کښې ميز او څوکۍ صافي کړه . بيا په سټل کښې اوبه درواخله او دهغې خونې غولي ټول پريمنځه . زه به بيا درشم او هرڅه به درو ښيم . تهورشه هغه سټل واخله او هم برس او صابون در سره واخله !

برته بيمي بخي .. صاحب راووت او د ډوډۍ خونې ته ننووت . دې سهار مهال خپله ناشته يوازې کوي او ما کله کله ئې زوی هم ور سره ناست وي .

د حرمسرای د ډوډۍ ميز البته جلا دی او هغه هلته د ننه ښځې پيش خدمتانې اداره کوي . . صاحب تل خپل سبا ناری د مېلمنو په کوټې کښې کوی او وانی چه داخو ندور کوی . دده ټبر هم خورا اوږدی او تل ئې يوازې والی له هرڅه خوښ هم دی .

ها ، ها نه راعلی زنګيه ! ښه شو . او ... باشي څرنګه هلك دی . زما په خيال خوار نکړه دی . کړنه په نوی ورځې . پوښی و کړه ! همه داچه دوه جوړه ښه کالی ور جوړ کړه او تل دې د ډوډۍ په ميز د خدمت د پاره حاضر وی » ...

صاحب پوښته ښکنځل وباشی نه و کړل او له دې چه تل پيش خد متان دده له ناوړی رويې څخه شکايت کوی د ، ته خبر داری ور کړه او په نيمګه ئې ور ته وويل چه : « دغه نوی زنګی به په هيڅ ډول ته زورونې او ناوړه بې ځايه تو نګونه به نه ور اچوی که نه ودی پوهيږی چه خورا سخته جزا به ور کړی او هم به ئې له کوره څخه دا ډول وباسي چه بيا په عمرو ، عمرو ، بيکاره ګرزي او څوك به ئې نه مزدو روی »

ده باشی له ځان سره بنهار شوا وننډی ، ئې خورا تر پونيولی دی . په داسې حال کښې چه د ډوډۍ او ل « بنګ » ته ښيې له ځان سره په شليدلو ، شليدلو

لفظونو څه وائي. بي مخې ... خوښيږي نورما خوار کې ...، په ظاهر خو داسې دروند دروند ځي او داسې معصومه ښه ئې ده خو خدای ده په دننه احوال خبر دي اوزه هم تر يوه حده پوري ... په حقيقت کښې ليوه دانسان پوټو کي په ځان را کش کړي دي. ښه‌دي، خدای دي پخپله جزا ورکړي، زموږ خورانو خوهيڅ وسونه در باندي رسيږي. داشل کاله مي دده په‌در کښې چو بړ وواهه. هر دول کارونه مي دده دخوشالۍ دپاره وکړل، نو که رښتيا درته ووايم داډول کارونه چه هغه هيڅ يوانسان نشي کولای خوبيا هم راضي نشو. ښه‌ئې ويلي دي «زه سترې نه ناخوښه!» داهم خورا په زړه پوري ويناده چه وائي: «بيدای کښې ډېل کاله پسې او زو سپور يوسې خو چه په محکمه دي کښېنښود لکه کمکی چيغې وهي»

باشي ايرخه په قار وويل: هله (گلبته)، (سمندو) او (بنگه)! بل صبا بيا هغه «غټ مامور صاحب» ميلمه دي. دوې‌ستر کې به څلور کوي اوځانونه په‌خورا کارونه‌ښه چمتو کوي. بنگ په‌دې خصوص کښې چه‌غټ مامور څوك دی پو ښتنه وکړه او هغه سو که ورته‌و ويل چه دهغه په‌ارو يدو «بنگ» خورا خوشحاله شو داځکه چه‌دده خورا زړه غوښته چه‌چېر ته‌په لاري او ياپل کوم ځای دغه «غټ‌مامور» له‌نژدې ووينی. خو کوم وخت چه‌ئې داواوريدل چه دې‌په کار کښې ښه بلد نه‌دی او دحضور دميز دپاره به‌له‌سر کاري هوټل څخه پيش خدمتان راولي خوا بدی شو.

دمليمنو دناستې کوټه‌خورا ښکلې او په زړه پوري ترتيب شوی وه، برسيره په دې چه پخپله کوټه ډېره ښه تعمير شوې‌وه دهغې غولي تول

د(مور) په غالیو پوښلی دی او هم ځای په ځای بر دیوالو خورا ښکلی قالینچې
چه طبیعي او د عیاشۍ ښکلې منظرې هم پکښې دي او د آرت او صنعت له لحاظه
خورا قیمتي او د ستاینې وړ دي را ځوړندې دي د دې اوبې او ښکلې کوټې
د سر خوا ته د شنه بخمل کوچونه ایښودل شوي دي. په مینځ کښې ئې یوه نسبتاً
جګه غونډۍ یوه آرام ځای کې چه سور بخمل ئې پوښ دی ایښودل شوې ده .
دوره خوا ته دوي عادي ځای کې چه هغه هم په بخمل پوښلي شوي دي شته. ددې
ټولې کوټې فرنیچر د انګلستان نه راغلی دی. خورا ښکلې ښکلې پردې هم
ځای په ځای په ورو په خورا زړه وړونکي ډول راځړېږي.

د کوټې باغچه هم په خورا ښه ډول تزئینه شوې ده. په هره ونه د برښنا
راز، راز څراغان راځړېږي. د هر ډول ګلانو بوټو ګرې ته هم څراغونه
ورو ستل شوي دي چه د دوي ښکلا په دې شپه کښې عجیبه خوندوره منظره
لري. د ناشتې دپاره هم په باغچه کښې خورا ښکلی او مجلل ځای جوړ شوی دی
په تیره بیا د «غټ مامور» ځای د سپوږمۍ سره مخامخ ټاکلی شوی دی.

« بنګ » چه دا ټول ترتیبات او دا راز ژوند ولید سدئی له سره ورته ووت
او نژدې وو چه خپل ټول حواس بایللي. ده به تل د انورو پیش خدمتانو ته ویل:

« زه چه خدای نه وزلم دغه شیان ئې را باندې لیدل غوښتل. » بیا به ئې
یوه بل ملګري ته په یوه صمیمي زغ وویل :

«زه ئې چه زوکړی یم ما ماشین لیدلی نه و. توبه! خدایه توبه! لارۍ، موټر
خو مې لیدلي و. دوی وائي چه هغه هم ماشین دی. په دې کښې شک نشته چه
هغه ته هم حیران شوی خووم او بیا د فابریکې ماشینانو ته هم ډېر حیران شوم
چه څه ډول ورېږي او بیا په څه ډول ښکلې ټوټې پکښې جوړېږي خو سره

له دې هم هيڅ شی زما سره دومره له سره نه وو بيولی لکه د دې کوټې ښکلا او د دې باغچې زړه وړونکې منظرې ! » .

تا ګلی شپه راغله. له ۷ بجو وروسته د ميلمنو راتګ شروع شو، د ګړنديو موټرانو بوغندې دی. خو ګله ګله بيا آرامه، آرامه شی. بيا نا بېرده په يوه پلا د موټر څراغونه د کوټې په ننه باغچه کښې رڼا واچوی. خو باغچه دومره ارته او په ډول، ډول ونو پټه ده چه د ارونانې پای ته نه رسيږی او په کښې د يوی رڼې شمعی غوندې وځليږی .

ميلمانه په دری برخو ويشل شوی دی. هغه مامورين چه د دوائرو مشران دی په يوه کوټه کښې. هغه کسان چه د ښار کنټورئيسان او نومو ړی سوداګران دی په بله کوټه کښې. د لوړی رتبی مامورين او د بلارۋ نيکه را ايسی سرداران او ځينی بيخی ماره خلك د « غټ مأمورصاحب » په کوټه کښې کښيني .

په هغو کسانو کښې چه د هر ګلی دياره ولاړدی د . . . . صاحب زامن هم شته . دوی په خورا ښه ډول سره د هرچا مقام او حيثيت پيژنی او په دا هول ئی ودرو کونو خونو ته لاربښوونه کوی چه هغه په لو مړی ځل هيڅ نه پوهيږی چه غير د ده له خونی په بله خونه کښې هم څوك دی .

د « غټ مأمورصاحب » د خونې ميلمانه ټول د خونی په پای کښې کښيني او د سرخوانی چه هلته يوه نسبتاً ځګه او مجلله څوکۍ پر ته ده تر او سه خالی ده لږ څه ښه ناوخته غوندې د « غټ مأمورصاحب » موټر راغلی هر کسلی نه ئی پخپله . . . صاحب راووت او نورګن خلك چه اکثره ئی ميلمانه و راووتل، د لوړی او مجللی څوکۍ شاوخوا تقريباً د لسو کسو ځای هم شته يعنی کوچونه پرانه دی. کوم وخت چه « غټ مأمورصاحب » کښېنوست

نوئی د سترګو کنځو نو هری خواته کتل شروع کړل. ده هر سړی په دقت وکوت. پخپله د کار ښتن په دوارو لاسو کښې د سپینو زرو سګرټ دانی ورته راوړه او په خورا احترام ئی هغه ورو وړاندی کړه ده یوه دانه سګرټ ورواخیست او هغه ئی د خولی په کنج کښی کښیښود او بیا د کار له ښتن هغه ور ولګاوه.

« غټ مأمور صاحب » چه د سګرټ دود یوه کړ نوئی د مهر او مینی په لهجه زغ کړه « ملا . . . . اخوند زاده صاحبه دلته پاس را شه کښینه .)

بیا یوه دقیقه وروسته : (سردار . . . . . صاحبه راشه د لته کښینه .)

په دی ترتیب ټول هغه مغرور او متنفذ ملایان، بډایان، خانان او عالی رتبه مأمورین یو بیو غونډیت کیدل او دغټ مأمور له څنګه کښېنستل. د هر یوه نوم چه به ئی واخیست هغه به په کالو کښی نه ځائید او به خورا سر لوړی به ور ولاړ شو او به ادب سره به به هغه ځای کښېنوست چه ده به ورته اشاره وکړه.

په (بنګ) ئی خورابنه او ښکلی خوا پاکی کالی اغوستی دی او به یوه لوی پتنوس کښی ئی دمالټو، انارو تماترو او به پیکو چنیو نازکو ګیلاسو کښی ایښی او به میلمنو ئی ګرزوی. که څه هم ده ته ئی به کلکه ښوولی دی چه باید هرچاته (تیټ) (سرخوزلاده) ودریږی او چاته مخامخ نه ګوری خو بیاهم د کلیوالی ژوند اثرات او خپلوا کی ده دده به مغزو کښی خوراتینګه ده.

هرچاته چه پتنوس ونیسی ور ته خوزمسل وکړی چه پر لیدونکی هیڅ بدنه لګیږی.

دباندی په باغچه کښی یوه ګوټ ته یوخورا لوی نجیر وهل شوی دی او په هغه کښی دوه دیګه خوا اوزد میز اودل شوی دی، وروسته د میو ودا او بو تر ویشلو (بنګ) دوه دیګه داوړلو دپاره لاړ. ډول ډول پلاؤ، چلاؤ، تر کاربو

کبابو، غورمو او څه، او څه (بنګ) یوځل بیا له سده وایست په دی وخت کښی لاڅا په خپل کلی په تیره بیا خپله مور او خویندی دده په خیال کښی وروګرزیدلی او په خپل فکر کښی ئی هغه لفظونه او کلیمی موندل غوښتل چه په هغه دوی ته ددی منظری تعریف وکړی. کله له ځانه سره وائی چه کشکی ئی دومره قدرت درلودلای چه دوی ئی په یوه آن کښی دلته راوستلی وای او دا نعمتونه او خوا ړه ئی ورته ښودلی وای. ده تل په دی ښو ښو او خوراً نفیسو او ښکلیو غابو او غوریو کښی کتل چه که ئی چیرته د لرګی کاسه ترستر ګو شوه چه هغه به څرنګه ایسی. خو البته دی په دی باندی بریالی نشو.

میلمانه ټول په خورا ادب او احترام سره په «غټ ما مور» پسی دی څوك چه له چاسره خبری کوی نو هم سرورنژدی کړی او په پسهاری باندی غږیږی. دوی ټول دډوډی خوړلو ځای ته راغلل. عادتاً ډوډی خوړلو پر میز باندی هغه کسان خو راښه معلومیږی څوك چه پر «غټ ما مور» باندی ګران دی.
مثلاً هغه تل له خپل غوری څخه یوڅه ور بخی او نور شیان په یوه جلا غاب کښی واچوی او بیانی دخپل نیتی نه چه پر هماغه میز ناست وی ور کوی. که نژدی ؤ پخپله دی ئی ور کوی که نه وی نو پیشخدمت ئی ورووړی.

دی میلمستیا او میلمونه پر (بنګ) باندی خوراژوره اغیزه وکړه په تیره دده په فکر کښی ئی نوی او خوندور امیدونه پیدا کړل. دی ته ئی شوق نورهم دیرشو چه سبق ووائی. ده له باشی او هغه بیاد خپل بادار له یوه زوی څخه اجازه واخستله چه تل دی د مازیګر له خوا سبق وائی. خو د بادار زامن ئی پوری خاندی او کله کله د همدردی په توګه ورته ووائی چه:

«خوشی خپل وخت مه تیروه او خپل مازغه مه خوره! د اشیان هیڅ په

ښه‌نه ورځي اونه چاته ورغلي دي ته‌زمونږ ګران پلار نه‌و ګوره توره‌په‌سپین ئې نه‌دی زده تر دې وخته پورې ئې یوه کوچنی رقعه نشوای لیکلای خوته ئې به‌ښه ګورې چه‌په سوو دوډۍ خواره لری. غله ئې په کندو اوروبیه ئې په کښوډو کښې نه‌ځائیږي. په‌زرو تو ګران بزګران لری‌دغو نه مخکې خدای ورکړی‌دي‌چه‌په‌کلو کلو د کښت او کروار نه‌ورته رسیږي په باغو کښې میوې خرابیږي‌شي اوبائی به‌ښه‌مخه‌خلک یوسی ځکه‌چه‌خوراه‌پر باغونه دی‌اوڅوک پسی‌رسیدلای نه‌شي دا ته ئې به‌ښه وینې چه‌هرڅوک ئې څومره احترام کوی ».

وروسته له‌هغه چه‌سګرټ ئې ولګاوه اودهغه‌له‌دودځخه‌ئې حلقې جوړولې خپلې خبرې ته داسې‌دوام پسې ورکړ :

« دا به هم‌درته څرګنده‌وی چه‌خورا لوستي‌خلك اوخوراقابل کسبکاران یوی خولې مړی نه‌پیداکیږي غورځی اواکثره وختونه‌په‌وږی نس ګرزی او ژوند ئې خورا تریخ تېریږی په‌دې ملك کښې « ډیره هوښیاری‌ډیره‌خواری ده» په‌دې خبرویسی به‌سر نه خوږوی. په‌دی وختو کښې ځینې ځینې خبری اوروو چه ځینې ښه زنګی زلمیان ئې کوی‌، مثلاً‌دوی تل کارستائی اوداسې چه داانسانانو ژوند پرکار باندی ولاړدی که کارنه‌وی اوهیڅ‌شی نشته»

«نه به‌خپله ګوری چه‌سره له‌دې چه‌هیڅ کارمونه‌دې کړی‌اوتوله ورځ په‌میلو اوښکارپسې تللی یوڅو بیاهم تر هیچادانګرنه‌یو ترچامومزغی‌مزی‌نه‌دی دادی‌شل کسه دادی تیارسی‌ړ راته ولاړ دی »

که څه‌هم دې خبرو پرښنګ باندی اغیزه‌وکړه خوده دسبق‌ویلو نه‌مخ‌نه واړاوه اوپه‌هماغه میننه ئې پرخپل‌تا کلی وخت باندی سبق لویست .

یو ورځ چې له سبق نه راګرځېده خپل پخوانی اشنا «دوران» ئې ولید. د «دوران» وروره ورسره ؤ دوی دواړو په مینه له «بنګ» سره روغبړ وکړ او بیائې په مینه ددۀ احوال وپوښته «بنګ» په ډېره مینه ورته و وېل:

«د کار کوونکي سادۀ او ډمیني دکړ ژوندمې نه هېر یږي. که څه هم دلته وریجې غوښې راسیږي او کار ئې درونه هم نه دی خو سره له هغه زۀ دومره خوشحاله نه یم لکه له «خلیفه» سره چې وم او یا له ناسره وم. په تېره بیاد «خلیفه میرجان» شپې ؤ ورځې خو مې تر ډېره بوري نه هېر یږي. ستا او د وروربنه خوښه بنګاري لکه چه شپه موښه تېرېږي».

دوران غاړې تازه کړې او ورته وئې وېل:

«مونږ تر دا څو ورځو د مخه په هغه ترازو کښې کار کاوه چه تۀ هم راسره وې ترازو دارزه له ځان سره پر ترازو ودرولم. مونږ ته له لوړ و ځایو څخه هدایت را کړ شو چه په ترازو کښې متۀ و وهو یعنې په ترازو کښې چه شل منه وړي نلي بومن ځای ووهو او کم ئې حساب کړو. دا کار مونږ ډېر و بوری وکړ هغه تېره هفته چه نه راغلي ما غوښتل چه دا خپله قصه درته وکړم خو فرصت مې مونده نه کړ. بیا څېنې خلک پوه شول او پوی، دا چې خلکو لومړی دلته عرض وکړ او بیائې په حکومت کښې عرض وکړ خدای مې بوه سوی کو له بوري اېستلي وه چه هغه مشالفت ماته رانه غلی ځکه چه هغه خبره به خپله لوړو ځایو سره هواره کړه او په دې نو که هېڅوك نورنشو اوس نو پسرلی نژدې دی ژر به خپلو کرو ته بېرته ځو بنه شو بو څه پردۀ موو شوه د ترازو په کار کښې ماته دورځې شپې ډېرې بېسې راالوېدې که تر پسرلي بوري، دغه پول وای ته باورو کړه چه دډېر څه ښتن شوی به وای خواوس هم ښه دی تر خوله مې

یوری وورې نیری دی باید شکر یې وکاندې هغه کیلو نه باید راپیدا کړم چه ټول ژمی
به مې په خوار یو کښېنو کښې ملامانه شوه خو کوم وخت چه به پسرلی شو هغه زه
او هغه تاولی ورځ دیوی ریښکیې په راندېو لوبه مې قدرت نه ؤ سېز که خدای کول
ټول کاله نه یو ښه شی رانیولی شم سېز مې ژمی هم ښه سو که تیر کړ که مې دورور
دیښې واقعه نه وای نوزنکیه! ځان مې باچا باله باچا ! »

د « بنګ » زره غوښتل چه نرد پر یو وړې له « دوران » سره وزغېږي خو ده پخوا
لاعزم کړی ؤ چه یو ه پلا به بیره ورشی « خلیفه » و ګوری او بیا ژر بیر ته خپل کارته
لاړ شی ځکه چه ده ماز یګر نیې دخوړلو وخت نژدې دی او دجوېرانو باشی به خورا
ورته په قهر وی خو په پای کښې د « دوران » او زدنقر ردی دې ته مجبور کړ چه
د « خلیفه » کتل له زړه څخه و باسی او هغه وخت هم له ده سره په کړ بدو تیر کړی

« دورانه وروره! زه هم ښتاد د عاله بر کته بدنه یم تنخواه مې تراوسه یوری
نه ده مصرف کړی زموږ وطن داران چه راغلی وو هغوی وویل چه زما پر مور
باندې دوو یورو دوچه سوانی خوار دی او زما درانګ یه وخت کښې کوز و
ملکونه تللی ؤ عرضونه کړی دی نو ما هم ددو میاشتو تنخواه غوښته مور ته وروليږله
چه د سوانی خوړو په خوله کښې ئې وروا چوی دا میاشت تنخواه مې لا تراوسه
یوری نه ده اخیستی او غوارم چه دهیڅ میاشتې دا تر ځوچه ځم وا نخلم نه خو
یو هیښ‌زی چه زما تنخوا خو له فابریکې را کول کیږي هغوی خو اعتباری خلګ دی که ئی
هره میاشت واخلم دار یږم چه له لاسه راڅخه و نه اوځی! اوه! ماته اجازه
را کړه چه ولاړ شم ! ځکه چه د کار وخت می دی بیا به ئی رابانډي غږ و ه مبی وی
ښه نو د خدای په آمان کله کله را ځه کور ته او هلته به سره وینو او یوه ګړۍ
به سره غپ یپ ږو !

بنګ په بېره ددوی له سترګو تمام شو او په منډه د کور خوا نه درومي ده باشي چه سترګي پرونبتي تندي ئي تر بو کړاو له ځان سره ئي وويل : اوس د ی نوځه کوم تول کارونه مونبز و کړل اوس نو الکه د صاحب سکني زوی راغلي خدای اوس بيخي راوستلي مه وای بنګ خپل کتاب پر ځای کښيښود او په بيړه دچا بو څښلو ځای ته ور غلي . هلته ګوري چه څو کسه نور ميلمانه هم ناست دي او بخپله غلي په بوه ګوټ کښي ودريد . باداري ئي تر نور کله ابز څه خوا بدي او ماني جن غوندي ښکاري . دچا بو څمڅي ديپالي پر ژبه باندي ورو ورو تکوی او سترګي ئي په بوه ايري ځای کښي ښخي نيولي وي «بنګ» بر له پسي ورته ګوري چه اوس به سترګي وزموی٬ او اوس به ئي وزموی خو دده بانو پربانو نه پريوزي او وچي کلکي ئي په هغه ځای کښي نيولي وي. ده هغه وخت سترګي ورغړولي چه بوه بل زبر ورخو چاغ سړی چه د ..صاحب سره ئي نوي خپلي کړي ده په خوراليز مه بزغ وويل: «نوځه وکړو. ناچاره يو. دغو ښو اولر ګي څه سره کيږي؟!»

ده ورته وويل: «تاد کمي خوارا اخستي ده!. دخلکو غمونه دي پر خپلاو اوزو بار کړی دی. ورکي کړه. هر څه چه وشول وشول ٬ پروامه په کوه»

«نه ربښتيارائي خو خبره داده چه داسي زمانه شوي ده چه سړی دخلکو له خبرو څخه ځان نشي خلاصولای. که په ملك او ښار کښي دوو ډيره ابزوالي وايدشو نوموږ ته ښکنځل کوی او هر څوك زموږ غوښي خوري او وائي چه داد «بدايانو» له لاسه دي. که نو کر کميافته شو نو هم د بزموږ برسروی او وائي چه موږ دا کار کړي دی په اصل کښي خو خبره ښکاره ده هغه داچه دهر چا پر خپل مال او برخپلو پيسو بدا بسو خدا ی را کړی له خدا به ئي نه غواړي زموږ به... بسي دي»

يوه بل د ښکر غوندي زلمي چه مخ ئې وچ او ژړ ښکاره کيدي ځان سره راټول کړ او په خورا زړه نازړه ئې... صاحب ته وو بل چه:

«د سوداګرو او پيداګرانو په طبقه باندي پلونه اچول کيږي يعني دوي له دې مسئوليت څخه نه خلاصيږي. خو تاسي په خپله انصاف وکړئ او يو ګړي ځان بيطرفه تصور کړئ او بيا قضاوت وکړئ چه آيا دغسي نده؟

آيا ستاسي طبقة چه ځيني نوري طبقي هم در سره وي د ټولو خلکو په ژوند لوبي نه کوي؟ که ئې زړه وغوښت ټول خلک د لوږي او قحط سره مخامخ کوي او بيا که ئې زړه وغوښتل ټول خلک په دې تهديد وي چه بربنډ وګرزي او مړي ئې بې کفنه ښخ شي.»

«بنګ» د اخبري به خوند اروبداى په عمومي ډول دغو په مطلب پوهيدئ خو ځيني داسي لغتونه به استعماليدل چه په هغه دده سر نه خلاصيدئ. «بنګ» وروسته پوه شو چه دغه زلمي او بو بل زړګي دواړه د.. صاحب نژدې خپلوان دي او په دې وختو کښي ئې اود تعليمونه پاى ته رسولي او راغلي دي' نو ځکه دوي په دو نه اوى زړه له.... صاحب سره خبري کوي او دي هم هيڅ بد نه په وړي.

يو بل چوبړ چه مخ ئې کوي تکولي واو.... صاحب ته ورته «بد مخي» ويل «بنګ» ته وو بل:

«نو به کانه که دوي د.... صاحب خپلوان نه واى نو د وي دي ډول آزادي خبري له.... صاحب سره کولاى شواى؟ رادوري شه! که... صاحب وليداي چه د دوي خبروته يو غوږ شوي ئې سا به دې په ولاړه وکاږي.»

له کرمي ورځي چه دغه زلميان راغلي دي تل د دوي په منځ' د سياسي ناري او هر وخت همدغه خبري جاري دي. بنګ به ډيري حيرانتيا د او پناوي

اوري او كله كله خو له دانورو چوپړانو څخه پوښتنه كوي چه « دا ښاغلي خو شكر دي په نس ماړه او په تن پټ دي. دوي ولي دمزدورانو او خوارانو خلكو دومره لوري كوي او تل دبډايانو او سو دا ګرو له خوا خو له وهي او دوي مزدرانو ته مسئول ګڼي او وائي چه ددوي حق ئې تر پښولاندي كړي دي او د هغو د زحمت ميوه دوي تر و ښي . »

« بد مخې » پر دا ترپ وهل اوورته وي ويل: « ستاسي په دې خبر و اوتقرير وڅه؟ دوي خو لوي خلك دي او سر ه خپلو ان هم د ي . څوك د انه ورته وائي چه ولي داډول خبري كوي . خو كه ستا له خولې چا وا وريدل نو پوهېږه چه په هغه آن به ي له كاره وباسي او بيا به دي بنې ربه شا په ختوبسې به ګرځي. داوزبحي ؤغ ، بنې چه درر سېږي هغه وسېه! او شكر و كاږه پر خپله خوله او غوږو لاسي و نيسه »

* * *

د « بنګ » مورنر دپرو پوري دبنګ احوال نه دزلودا وخوراغمجنه وه . خو كوم وخت چه دَد وي له خپلوانو څخه يوه سړي (٤٠٠) افغاني د بنګ له خوا ور كړي نو ګ له او حتى : د وي په خپلو خپلوانو سانډوتله ! وهر چاپه دي چه بنګ پر ښه « خواري » ييښ شوي دي خوشالي كړلې . مورئې په خورا خوشالي سره هغه خط چه بنګ له رو پو سره رااستولي ؤ ماجت ته ورډ وړ او ملانه ئې ور كړ چه وي لولي ويل كيږ ي چه : نوي ملا » په خط ليكلواولوستلو كښې خورا پياوړي دي . هغه چه خط وبرانيت او تقريباً (٥) دقيقې ئې هغه پر له اړاوه و ويل چه: « داخو ميرزائي خط دي! او ميرزائي خطو نه خورا ګران وي . دومره ځيني معلوميږي چه زوي دي خورا كالك جوړ دي او پر ښه خواري ييښ دي . كه خداى كو ل خورا ډيري

روپۍ به درته راشیو . کړی که ئې خط ملا ئي وای سمدلاسه به مې درته
لوستی وی »

د بنګ موربی له کوم څخه (۳۰۰) افغانۍ د سوالی خور وکړه وروړی او په
داسې حال کښې چه غاړه ئې هسکه نیولی وه د بوه سوالی خور
مانۍ ته ئې وویل :

« خدای مې دې بوزوبه نه کوی ! دغه دې خوری بوڅه روپۍ خومې درته
راوړلې او اوس دېله دهچه پهدې سره زمې اوسرو کښې به مې کښته بورته
نه زغلوی او د محصلانو له لښتې به مې باسی . زوی مې شکر دی تکړه سړی دی
پاته روپۍ به هم خور اژر درکړی . تاسې مونږ ساړا چولو ته پرېږدی هر څه
به اسانه شی . که مونږ خوږ ګونه ونیسی او پوهیږی چه نه به تاسې ته څه درجوړ شی
او نه به مونږ پر دې لاس ومومو چه تاسې ته بوڅه درکړو . »

سوالی خور له د ننه بر رازغ کړه او ددې چه څوروپۍ ئې راوړې دی پوښتنه
څخه و کړه ، بیائې په خورا ناوړه او زړه زغ ورته وویل :

په دونه لږ لږ پیسو زما غاړه نه ووزی ادی جانې . مونږ اروېدلی دی چه زوی دی
(۴۰۰) افغانۍ رالیږلی دی باید ټولی ماته راکړی ، ته چه (۱۷۵) ماته
راکوی او دغو نه وهغه بل ته نوو یوهیږه چه زه مونږ پور څخه بیزی او بیائې ګنه
درباندې اوړی چه دا د کولانی بهٔئی نشو او بیا به مود تهاړ کړی چه
په خپل حق درسره جنجال و کړو . »

د « بنګ » موربه د پرعجز ورته وویل چه : « هغه بل مې بیا کشوی او وائي
به چه زما خوهم پور درباندې ؤ . ولې دې ماته هم یو څه رانه کړ . نو ته چه
داوائي چه دا پیسې ستا په پور کښې هیڅ نه معلومیږی او زه مونږ پیتې نه سپکوی

تو حساب را سره وکړه چه ستا څو را باندې وي او ولې دا يسې زمونږ بار نه سپکوي . ستا اصل پور څو شلې ؤ ؟ »

« ادې ستا حق دې خداى ته را باندې خورې . خداى د غو نه روزي راکړې ده چه ښه ئې خوروا و ښه ئې اغوندو ، تو که مې د رښتيا و پوښتنې دغو نه لرم چه دد غه کوچنى دوى ، زوې ئې لا نشي خلاصولاى يعنې د لمسى مى لا بس دي تو ستا غو ښو ته به موو لې ښتيلى وي . گوره ښه واوره ! ما دولس نيم شلې پوه پلا در کړې او ۱۲ نيم شلې مې بيا در کړې چه تو لې پنځه ويشت شلې يا پنځه سوه افغانۍ شې ! ته په خپله ناسته وې چه دا پيسې مې په (۱۰) منه غنم در سره مانې کړې چه هر کال به لس لس منه غنم گټه را کوې . تير پسرلي مو وعده ورسيده خو تا سې ځان به بوه خوا کړ به پاى کښې دې زوى و تښتيد او زمونږ حق ئې را نکړ له تو او خلکو « ۱۲ » منه غنم اخلو خو ما ستا سې لحاظ و کړ او لس منه مې در ښخه وغوښتل داځکه چه « ښگ » له خو لې مات هلك دى . کله کله بار بو تې چه ورته ووا يو را ورې ئې ، او هم ژرندى ته د ر ومى . تو ادې ! چه د غه پسرلى را شي نو پوره دوه کاله وزي او د دو کو خو (۲۰) منه غنم کيږي . ته په خپله فکرو کړه چه من په (۲۵) افغانۍ در سره مات کړم بيا هم زما حق (۵۰۰) افغانۍ کيږي چه دا اندازه رو پى . په دې لږ شى با ندې نه پرې کيږي . ښه دا ده چه زما لاس بيخى له گريوانه و کاږى او هغه پولاس پر يږدې . دا اصل سر ئې زه پر وانگوم دو مره سوى سرى هم نه يم چه اوس در ته ښې و خرم چه هلته ژر کوه ما ته اصل سر هم را کړه به ادې ! هغه چه دې هر وخت ومو ند رائې کړه . په بله ژبه « له سر سره ئې کار نلرم برئې را کوه . »

سوا ئې خور د خپل دې تقریر اثرات د «بنګ» دمور په تندي کښې کتل او په دې چه دامیرمن به دې «حقانه» حساب باندې قانع شوه او بلکه ځان ئې خورا ملامت ګڼله چه ولې مې ددې مسلمان یورنډې ور کړې خو وازده ورشو او خپلې خبرې ئې دغسې پسې اوږدې کړلې:

«زمانښه معامله په ټول دیار کښې هرچا نه ښکاره ده. زه خو داسې نکوم لکه دا نور. هغوی چه کوم وخت یو دیرلږ سرې مونده کړې او هغه دېوشه لوږې ګټې ور کولو وعده ور سره وکړي نو که ئې پیسې په صندق کښې تیارې نه دړلودې نو سمد لاسه هغه پوروړی نه چه موده ئې پوره شوې وي ورشي او دسوټی په زور پیسې به جوړې کړي. که هغوی پیسې نه دړلودې د ځولې تغرئې را ټول کړي او بانې لو غزه ځینې بوزي او کمکیان ئې وچ حلق په ژړا کړېږي پرېږدي. اوهم له کوره ئې هیڅ خیر هیچا ته نه رسوزي. په بلاژبه سیم ئې تر کور بغې تیربېږي». مګر زه تل د بابا فقیر ترنه کرم. په میاشت کښې یو ځلا او یا دو ځلا ماجت ته غږې راوړم. مسافر ته شلومبې او ډوډۍ ور کوم. لنډه دا چه که له تاسې ښځه ګټه کوم یو ځه پر تاسې بیرته خرڅوم. دا سې نکوم لکه دا نور چه پنځه واړه ګوتې په خوله منډې.

مقصد دې سو ائې خواره به دې کښتوؤ پورته او به دې لنډو او اوږدو د «بنګ» دمور له ګوتو (۳۵۰) افغانۍ تولې واېستلې او بیا ئې دینځو سوو نورو افغانیو پوښتنه ځنې وکړه. هغې ورته ووېل: «د ملك هم تل غږو مېږي وي او وائي چه دومره روپۍ ئې زه ونېز په سر يرې کړې دي که هغه تر لاس تینګ و نیولم او نه ئې پرېښودم نو دا پنځوس افغانۍ به هغه ته ور کړم.

خو که هغه د ېر اصرار ونه کړ او نه ئې زور ولم نو یه دې بېسوباندې یو څه جواری اخلم او په پسرلی به ئې د عیال نفقه کرم. داتر زړه وباسه چه دا پنځوس افغانۍ به په هېڅ ډول در نه کړم. د هغه بل پور ورته عذر به مې لاهم نه کوې او هغه ته به وائې چه ودرېږه.»

سوائی خواره په دا سې حال کښې چه بګړۍ ئې له سره واخیسته او کوچنۍ دارګی توره زموڼځ ئې له جیب څخه را وایستله او په سر زمنځوا ئې ببل وکړ ووېل: «یه تاخو هرڅوك باید باور وکړی او هرڅو نه چه نه یو روې باید هغه درنه ور کړی او درڅخه زړه وهل په کار نه دی. ځکه چه یو خوبنه نکره ځوی لری، بل نو خورا بنه «لوټونه» لری هر لوټ دې د شلو زرو روپو دی، هر وخت چه ئې وغواړې هغه ماتولای شی او هر لوټ چه دې مات کړ د هرڅو ماغوندو پور ورته غاړه باسی. له دې جهته باید دا ګمان وکړل شی چه هغه بل پور وړی او یا ملك «کاکا» باید هېڅ درنه ونه وائی او خپل پور در باندې شمېری او بس.»

دبنګ مور په زړغوونکی ږغ ور ته ووېل.

«ما دا خوب لیدلی دی چه زما دلونوولور به هم لکه زما د پلار د لونو غوندې سوائې خواره خوری پلارمې د دوی له لاسه زاره ترقی شو. نه مې هېر بېږی کوم وخت چه ئې زما په ولور کښې څوپسونه او دوې غواوې راوستلې چاچه دغه مال راوستلی ؤ هغه لا پر ډوډۍ ناست ؤ چه بیا سوائی خواره له هرې خوا لکه مچان په اتګر را کښېوتل او بوه پسه زغلاوه او بل غوا او په خپلو منځو کښې ئې لکه دسپو غوندې سره خوړل پلارمې د دې حال په لیدلو بوموتی خاوری شو او هم دې چه ده ته هېڅ په لاس ور نغلل او ووه

عیال ئې ورته وزې ؤ خورا ناوړه اغېزه پرو کړه او خوار کې فقط درې شپې
ناجوړه شو او په یوه عالم ارمان کښې ئې یو ورېږ وکړ او بلې دنیا ته ولاړ.... دزنګدن

په وخت کښې ئې داویل: زما مظلمه دسوالئ خورو په غاړه د ه! تر څو چه
مووس کېږی له دې خلکو څخه لیرې نهوری؟ زمونږ طالع دی خاوری شی چه
بیا ستاسی په بی رحمو ګونو کښېو تلو،

په کوڅه کښې زوږه جوړه ده. دازغ د «بنګ» دمور نرغوز شو چه ویل ئې:
«مادرس دښتی وایه لهچه به دغه کور ننو تله» بسمد لاسه هغه بل سوالئ خور
په انګړ را کښېووت او په داسې حال کښې چه له قهره سو ر او شین کېده
د «بنګ» پرمور باندې داسې کړزدو کړه چه هغه خوار کېږ پرخای باندی
هیسښبه شوه او لکه لړ کی غوندې وچه کلکه شوه .ددې سپین سری خوار کې
زبون وهل شو به نبره بیا هغه وخت چه چیله لو رئې هم له سوالئ خواره سره په
داسې حال کې ولیده له چه هغه ترمړو ندنیولی وه او له کوره ئې را کش کړی وه چه
درځه مووری را و ښیه چه زما حق را کړی دنجلۍ خوار کېږ رنګ هم الوتی ؤ
او لکه سپین کاغذ غوندی شوی وه په کوڅه کښې نورو اننه هم پسې را تول شوی
ورچه چاخندل او چاژړل:

« بلادی پر دغه بد او نګولی مخ شه پر پېږده دانګی نجلۍ چه نژدې ده
له بېرې ئې سا وخېژی خو به ر په دې بر باندی وی و بنه خو به دې ندوی پر باندی
هغه بل سوالئ خواره دا پور ته جملو په حور اتهدید کړی زغ ئی ورته کړې چه هغوی
دا بنګ) په مور باندې سا ننه ا پستله او دی ته ئې دا جرأت ور کړ چه ورو لاړه شی
او خپله لوړ ترمټ څخه را کش کړی او په خپل ټټر یوری ئې ونیسی او پر بازخو باندې
ئې ښکل کړی.

(د ننګ) مور دواړه سوالي خواره يو ځای مخاطب کړل او ورته وې ويل زوي
خو مې هم د غه ډېرې بيسې را الېږلي وي اوس تاسي سره ډېر جوړ شئ، چه کوم ئې اخلئ، او يائې
سمې نيمائي کړ ئ!

لومړی سوالي خوار له ډېر ځه په قهر د ننګ مور ته مخ را ستون کړ او ورته وې ويل:
اې په خپلو بيسو مې ولی له خلکو سره په شر کښې اچوی. خو بوړ مې دربانده ی و چه
يوه برخه دی را کړه او بله برخه لا پاتی ده زما ئې، له نورو خلکو سره ځه چه
ورسره جوړ بېږم)

دوهم سوالي خور چه له دې قصې خبر شو خوراپر له واپشېدی. او له لومړی
سوالي خواره ځخه ئې غوښتنه وکړه چه په هر ډول چه وی بايد دا بيسې له ده
سره نيمې کړی. سره له دې چه دده بور نسبت و لومړی ته ډېر هم دی او کټه ئې
هم له ډېرې مودې نه ده ته ور کړ له شوی. بيا هم دی په دې رضا شو چه د جنجال
د مخ نيوی د پاره ځه چه «کونډی» راوړی دی دواړه لکه ورونه سره نيمې
کړي. خو لومړی سوالي خوار په جدی او لوړ ږغ ورته وويل:

«تا نه دی اروېدلی چه وائي: «نار ويو مرغه دی چه چاو نيو د هغه دی»
نو اوس زما خپلې بيسې زه تا نه نه شم درنيمې کولای. ښه دا ده چه ددې
(کونډې) د زوی ترراتګ پورې صبر وکړې. هغه چه هر ځه راوړل هغه به سره
وو يشو»

د دوی دواړو خبره خورا سره اوږده شوه او تر دې وو چه په غاړو کښې سره
لوېدلی وای. دوهم سوالي خورورغی او د خان ئې خبر کړ. هغه دواړه سره
کښېنول او ورته وې ويل: «يو د بل مه سره خوری، هېڅوک د بل چار زق نه
شي خوړلای. نه مو دی اروېدلی چه وائي: «رزق و نه له ازله دی» بيا د دواړو

کاریږي دی. که تاسی سره بې اتفاقه سواست و بو هیڅری چه کته خو لاڅه
والله که به دې کلي کښې ژوندو کړی. ځکه چه دا تول (بربند کوني) او (خواستغي)
ستاسی جګړه او بې اتفاقي ددوی په ګټه تمامېږي زموږ ښځ به لا د ر سره
و کاږي»

لومړی سوائي خواره چه روپیه ئې تر ګوتو کړې وې و «خان» ته سترګه
ووهله او په اشاره سره ئې پوښته ورومنل.. نو هغه په داسې حال کښې چه یوه خاشه
ئې راواخستله او غاښ ئې په تومبه خپله خبره دا دول پسې اوږده کړه او س چه
کوندې روپۍ.. ده کړه ور ودی دی نو ته خدای ته صبر و کړه دی هم له
تا نه دی لیری چه وئې خوړې ګوا کې تا و خوړلی»

دو هم سوائي خواره چه و لیدل چه (خان) هم د ده پر خوا شو نو ئې
د بنګ مور ته وو یل:

والله چه ستا دغو ښو خورو بې جو ډې کړم، لومړی خو هغه پنځوس افغانۍ
چه سیمولي دې دی را کړه بیا نو دانوری هم له هره ځایه چه وی رامونده کړه
که نه وی د خدای شریعت ته دې بیایم او هلته خو به ئې داسې راشمېرې لکه...»

د «بنګ» مورخوار که دېسرلي لوزه او حتی خواستغوالي ددې سوائي
خواره پر بر ګوسترګوا و پراه پسې اصرار و نو او لږ ګوتکولو ښه و بلله او ورغله
له خپلې غوټې ځنځه ئې هغه (۵۰) افغانۍ هم ور ته را اوږدې او سوائي خواره ته ئې
خوله کښې ورواچولې. سوائي خواره چه هر څو مره پراه وادوله خو بل یوغران
نه شو په جوړ بیائي یو ښه وخت چرګ چه مور ور نه ساتلي و چه کوم وخت
بنګ له مسافرۍ راشي نو به لومړۍ شپه به ئې ورحلالوی و نیوا و په تخرګ
کښې ئې ټینګ و نیوه :-

«ښه ده نو دا چرگ خو والله که دربرېږدم تا چه تولې روپۍ هغه بل ته ورکړې نو دا دی جزاء ده چه دغه چرگ به در څخه وړم او نن شپه به میله بانه دی کوم»

* * *

دبنگ ژبړ مخ، بې نوره سترگې او ډنگره بڼه خورا ښکلي وا او ښتله دده مخ اوس په وینه شو، داځکه چه په نس، موړ شو او هره ورځ ئې خوراښه تېرېدله، ماښام به هم تو دپروت ؤ. دی په کور د بېرېښا نه دی او تل دغه چرت وهي په تېره چه اوس بسرالی هم پیغې را نږدې شو د بنگ په زړه کښې د مور او خوښیدو دایدلو هوس خورا ډېرېږي.

خپل پخوانی ملگری (دوران) کله کله وینی د دوران وضعیت هم اوس نو پخوا ښه شوي دی. هغه هیڅ وخت له بنگ څخه دخپل زړه حال نه پټوی او هر څه چه پېښ شوی وی هغه ورته وایي «دوران» اوس یوه لحاظه کوته کرېهه کړی ده دی او وزورئې دواړه دهغه نرازو کار کوی. یوه ورځ ئې (بنگ) ته وویل:

«دورانه» وروره! زه خوداسې کار نه لرم لکه ستاسی. او بل دا زه هیڅکله نه غوارم چه صداقت پرېږدم ولي دخپل وروره بڼی وخورم؟ څه چه مې حق وی او گټلای ئې شم هغه را کوی نو، نور زه ددوی به دنیا څه غرض لرم؟»

د(دوران) ورور بې حوصلې شو او په رزغ ئې کړه: «عجب صادق خومې نه ولیدي. صداقت له چا سره؟ ... دا صحیح ده چه زمونږ کار خوله ډېرو خلکو سره دي او بیا په تېره دیوونده ؤلس خورالویه ده او دا کارونه په کښې اثر نه لری. زمونږ خولې ته هم گوله ځنې راځی او زمونږ دبادار خولې ته هم

بلکه د هغه خولې ته خوراډېره او لويه ګوله وررغړي. نو او مړي مې در نه وويل چه صداقت له چا سره؟ نه خو بايد بيخي دا خبره ونه کړې ځکه نه چه څه تربينه تروښې هغه د خوار له وينو او غوښو نه ځي. نه بوشي جوړه وې د داسې سړي څخه ئې جوړوي چه هغه د نورو په غوښو پړسېدلی وي، دا مثل دې نه دی اروېدلی چه وای: «دلېوه له خولې ښه ختلی هم ښه ده» يعني که ليوه يو بشير پسه وزغلوي نو که چا د هغه پسه يوه پښه دلېوه له خولې راوکښله هم ښه ده»

بنګ دې ته حيران شو چه د دوران زړور دا خبرې چېرته زده کړي دي خو په پای کښې ښکاره شوه چه د وی هم له ځينو اوستو خلکو سره ناسته ولاړه کړې ده.

«يه ورونو! زه په دې برخه کښې هيڅ بحث نه در سره کوم. داسې مې بوه کړی»
چه څه وخت به ځواوشه د ولځيږ. زه که تلم خوله پوونده ؤ سره ځم ځکه چه له هغې خواهم له دوی سره راغلم او ښه پېژندنه ګلوی هم په کښې لرم. مثلا (کانړی) نومېږي خورا ښه زړه سواندی، زړور او مهربان نه ظلمي دی. ما خو هغه سره قول هم کړی دی چه له دې خوا به ور سره ځم»

«چه خدای ئې درکوي نو نه دې بوښتې چه دچا ځوی ئې! داسې وزله مې وشوه چه که خدای کول بيابه زه د خوار يو او هر دم شهيد بومخ ونه وينم ځکه چه د دې نرازو په کار کښې ښه ګوله را لو بېږي ځکه چه هره بلا چه پر تله «مت ووهم» خورا ډېرې ورېږ و ګټلې شي چه په دې نسبت زما برخه ښه را کوي. بوه بلا خو خلك وبو هېدل او غرض ئې و ګرچه هغه .... صاحب دفع کړ. بيا څو بلا حلکو عرضونه و کړل خو د پيرانو دد عاله بـر کښه والله که زمونـبږ پـر ... صاحب هيڅوك ابرېښ کولاې شي. سخيان خدای نه خوا روی که څه هم دی خو د ومره سخي هم نه دی خو لکه چه نيت ئې ښه دی

بو بهلو سېزه سړی دی مونږ ئې ورسره شنه کړو اولا بهموبسېشنه کړی »
ورورئې سمدلاسه وویل:

(بڼه او کړه وړه خودې خورا ښه ښوی دی ناهم لکه چه د ګټې سوری موندلی وی . ورورهٔ ز مونږ زیرمههم خدای کوی. تلخوبه وزی . بربنډنه کرځو او نه به مودبل چا پهلوښی کښې ستر ګې وی . هرڅوُچه دې د وسه کېږی خپل موتی د کو ه چه بیا به پهدې وخت او کړه بسې ارمان کوې او هېڅ بهلاس ته نه درځی . . . »

(دوران) د خپل ورور خبره غوڅه کړه او بنګ ته ئې به داسې زغ چه لومړی خورا سو که او بیا ئې بسې اوږ کړ وویل: « که مې د رښتیا بو ښتې دمزدورۍ پهپیسو والله که دچا برده وشی او هېڅکله به په دې اندازه ګټه څوك دبوه ښهږوند خاوند نهشی ،

خو کهبووار درحمت دریچه دربانډې را خلاصه شوه او دغسې سوری ئې پهلاس در کړ نو ویوهېږه چه پهابز موده کښې به دډېرشی څښتن شې او بیا چه ژېر پوستین واغوندې او به سیالانو کښې په هسکه غاړه . کښېنې نوهر څوك به دې خبرې ته غوږ نیسی او درته صاحب' صاحب بهٔوائی د(۷) وزیرانوعقل بهدې بولی ' نولکه ورو ره چه می در ته وویل اوس لا موقـې د کـو ه کـه نوی بیابه هېڅ پهلاس نه درځی' نه دېدې ارو بدلی چه تلخو جمعه نهوی' چه حلو اوې وښلی کېږی »

وروستهٔ لهبوڅه ځنډ نهئې بیاوویل: «ورونو! زهځم چه ناوختهشو. پهدې برخه کښې بهبیا دېرې اوښې مفصلې خبرې سره کوو »

(بنګ) پهبیره راو کرزېد او پهزړ ورتیا سره د مېلمنو کو ټې ته ورغی. دې نرېځوا اوس ډېر بلد شوی دی . دباشی اوبا بل چا څخه نه داربېږی .

څرنګه چه وویل شول (بنګ) تل د تلو په فکر کښې دی تل خپله ګټه ګڼی او هغه په خپل زړه کښې د ډول ډول شیانو پېرانیولو ویشی. مثلاً مورته ګری کمیس او موچڼې رانیسی او تل د دې شیانو قیمت د اټکل په توګه حسابی او بیا په همدې توګه د خپلو خوېندو د پاره راز، راز شیان رانیسی. خو دده پیسې د دې اجازه نه ور کوی چه د دې ډېرو شیانو په نیولو قادر شی. په تېره هغه وخت چه د پورورډو پورونه ور په زړه شی نو زړه ئې تسیا شی او د هیلو او امیدونو ګل ئې مراوې غوندې شی، او داسې احساس کړی لکه چه په رګو کښې ئې سړې اوبه جاری شی. خو چه بیا خپل او مړنی فکر چه په کلی کښې ئې کاوه ورپه زړه کړی نو خوشاله غوندې شی، ځکه ده هلته صرف د اتر زده ابستلی وه چه لکه نور خلک یوازی خپل نس وا دوی او که ئې چېرته پنځه غرانه ګوتو نه ورغلل نو خورا به ځان طالع من ګڼی او اوس چه پر ښه خوارۀ پېښ شو او یوځه ګوتو ته ورغلل خوشاله دی. په تېره بیا په دې ئې خورا زړه ښه دی چه یوځه سبق ئې ولوست او اوس لبزخه په لوستلو پوهېږی.

ده دا ګڼی هم په زړه کښې احساساوه چه تر پخوا ئې عمومې پوهنه هم ډېره شوې ده په تېره بیا ځینې ژوندی بحثونه چه ئې اروېدلی وی یو یو ئې په زړه کښې براته ؤ او بې له دې چه د هغو په اصلی او حقیقی مطلب پوه شی د هغه په شاو خوا فکر کولو باندې به ئې خوند اخیست.

ځینې وختونه خو به ده خپل دغه اروېدلی معلومات له نورو سره هم وېل او چه فرصت به ئې موندو کړنو، نورو چو براتو ته به ئې وېل چه: «راشی دقوانې د ښیګڼې په شاؤ خوا کښې خبرې اترې وکړو». د نه به تېره د یوه زلمی دې وینا خورا خوند ور کاوه چه د مملکت ډېرې او خورا ښې ځمکې

خوشحال وايي

زه خو شرابي يم شيخه څه راسره جنګ کړې
برخې ازلي دي کشکې ما د ځان په رنګ کړې

ښه وائې واعظه برکت شه ستا په ژبه
ښه ئې په وپلود د رباب او په کړنګ کړې

ولاړ ل وجنت ته چه په بوهه خبر نه وو
ولاړ لو دوزخ ته چه ئې لافې د فرهنګ کړې

پند د محمد(ص) دا بو جهل په کار نشو
څوك به ئې صيقل کا چه ئې خداى آئينې زنګ کړې

ښيني په خلوت کښې شيخه سودئې رانه وا به
رلى به خپل ځان داسې ارت جهان تنګ کړې

زه خو د زړه درد غواړم په هريوه مذهب کښې
تازه د ستا خبرو چه نقلونه رنګارنګ کړې

رايشه مطربه د نو روز سرود آغاز کړه
ښې نغمې زړه سوزى په رباب په نې چنګ کړې

هر لورى ته ګل دى شقايق نرګس سنبل دى
بې ګلذاره بد که وبل لورى ته آهنګ کړې

چا در پسې د برى توښې و اخستې طلب کا
ځينو مسئلې د ښې ننګې در پسې لنګ کړې

کا شکې د عمل تله در نه په قيامت شي
موم په رقيبا تو په عاشق باندى زړه سنګ کړې

2 JUN 25 1958
Copy

کابل مجله

ناسی کولای شی چه دا مجله په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ په دننه هیواد کښې په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په ١٢ کلداری په نورو دباندنیو هیوادونو کښې په (٣) ډالره لاس ته راولی.

د ښوونځیو زده کوونکو ته په نیمه بیه.

د یوه کال د اشتراك دپاره په کابل کښې همدغه بیه د پښتو ټولنی د محاسبی مدیریت ته او په ولایاتو کښې د همدی مؤسسی د جاری شمېر په (٧٨٧٥) لمبر افغانستان بانك ته سپارل کېږي.

د پښتو ټولنی د تېر کال خپرونی

١ : پښتني دودونه ٢ : غوره اثرونه مؤلف ښاغلی الفت ٣ـ هغه وویل د جبران خلیل اثر

دولتی مطبعه